# د کابل بنار اصلي معماري




لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیښ[illegible] ر[illegible]ی [illegible]۱۱ [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکي پوهه:**

**سرليک:** د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)
**ليکوال:** ډاکټر معمار(مهندس) حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتۍ ډيزان:** ډاکټر معمار(مهندس) حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۵۰
**چاپ نېټه:** مياشت - زمری / کال - ۱۴۰۴
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښناليک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک

**سرليک** **چوپړی**

**پخښتی...................................................................... ۱**

**بسم الله الرحمن الرحيم ............................................................ ۲**

**ليکي پوهه:.................................................................... ۳**

**لړليک ........................................................................ ٤**

**تراڼ (پيل، شروع، بريد)....................................................... ٦**

**د يادښتونو له پاره:............................................................ ۸**

**ښاغلي سردار علي د مرادخانۍ وکيل سره يادگاري انځور ..................... ۹**

**د كابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ): ........................................ ۱۰**

**مراد خانی د معماری پيخليک ته يوه لنډه کتنه: .................................. ۱٤**

**ښار د اعتبار ساتنه: ........................................................... ۲۲**

**د مراد خانی تاريخي اهميت:................................................... ۲٤**

**د فيروز کوه بنسټ:............................................................ ۲٦**

**مرادخانۍ ـ کابل د زاړه ښار سمبول:........................................... ۳۲**

**د مراد خانی کوڅې:........................................................... ۳۳**

**د افشارو کوڅه: .............................................................. ۳۹**

**د پنځه تنو کوڅه: ............................................................. ٤۰**

**د زيارت کوڅه:................................................................ ٤٤**

**د ميداني کوڅه:............................................................... ٤٥**

**د مميزو خرڅولو کوڅه: ....................................................... ٤٦**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د املي (عملي) کوڅه: ............................................................ ٤٧
د مراد خانۍ بازارونه:............................................................ ٤٨
د مراد خاني اسانتیاوې: ........................................................ ۹۰
جوماتونه:................................................................... ۱۰٤
په مراد خانۍ کې تکیه خانې:................................................. ۱۲٤
په مراد خانۍ کې ښوونځې:..................................................... ۱۲٦
د استوګنې (هستوګنۍ) کورونه: ........................................... ۱۳٤
لوی سرای:.................................................................. ۲۰۲
مراد خانۍ د لاسی نجارۍ تولید شوي شیان، په بهر کي: ................. ۲۳۹
پلان او ژمنې: ................................................................ ۲٤۲
د مرادخانۍ پرتله کول:........................................................ ۲٤۳
د بیا رغونې انځورونه: ....................................................... ۲۵۸
پا یله:........................................................................ ۲٦٦
د چاپ شویو کتابونو لېست...................................................... ۲٦۷
د کار لاندې کتابونو لېست ..................................................... ۲۷۱
د امکان او وخت په صورت کې.................................................... ۲۷۲
د پختۍ څښتې ................................................................... ۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترانې (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.

هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.

عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د نا څاپه څخه راوتل، حق د رسېدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې د کابل ښار اصلي معمارۍ (مرادخانۍ) په هکله معلومات او څېړنې د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه ) کړم.

زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې وپېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**مننه:**

د مراد خانی له وکیل ښاغلی سردار علي، د سیمه ییز امنیت امر انجنیر ادریس، د فیروز کوه انستیتیوټ له انجینرانو او په ځانګړي ډول د فیروز کوه انستیتیوټ له رئیس ښاغلي ناتن څخه د هر اړخیزو همکاریو په برخه کې مننه کوم.

د لوی خدای له دربار څخه ټولو ته د روغتیا او اوږد عمر هیله کوم.

**یادښت:**

د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ(شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت

ډاکټر معمار (مهندس) حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یادښتونو له پاره:

۱- .............................................................................................

۲- .............................................................................................

۳- .............................................................................................

۴- .............................................................................................

۵- .............................................................................................

۶- .............................................................................................

۷- .............................................................................................

۸- .............................................................................................

۹- .............................................................................................

۱۰- ...........................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی):

مراد خانی یوه له مشهورو، پخوانیو سیمو څخه ده چې د کابل ښاروالۍ د دویمې ناحیې په څنډه کې او د هېواد د پلازمېنې کابل د ولسمشرۍ مانۍ ته څېرمه پرته ده.

کله چې د احمد شاه بابا زوی، تیمورشاه دراني خپله پلازمېنه له کندهاره کابل ته ولېږدوله، کابل د سیند پر غاړه، یوه سیمه يې د خپلې قزلباش قبیلې یوه قومندان او مشر، مراد خان ته د ډالۍ په توګه ورکړه.
هغه د معمارۍ په برخه کې ځانګړي مهارتونه درلودل، همدغه کس و چې د کندهار احمد شاهي ښار د ده تر څارنې لاندې جوړ شوی و.




**مراد خانی د ځای نخښه (مپ، نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)

.....................................................................

د دې سيمې کورونه ډېری د ختو او اومه خښتو نه په دوو پوړونو کې د تلپوړ (ځمکپوړ، تاکوي) سره جوړ شوي دي، چې د اسلامي معمارۍ د کلاسيک ډول (شکل) او هنر څرګندونه کوي.



**د مراد خانی اوايي (هوايي، فضايی) انځور**

د شړېدلو ديوالونو، د ختو، اومه خښتو، د کورونو دروازې د لرګيو تختې، د دې سيمې پيخليک (تاريخ) په روښانه توګه څرګندوي.

کابل د مرادخانۍ د زړو ودانيو بنسټ په ډېرو، اومه (خامو) خښتو، اخېړ او لرګيو اېښودل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د خشتي پله جومات له لوري د مراد خانۍ لید**



**د کابل سیند له غاړې څخه د مراد خانۍ لید**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانی)

.......................................................................



**د کابل سیند له غاړې څخه د میداني لار(کوڅې) او مراد خانی بازار لید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مراد خانۍ د معمارۍ پیخلیک ته یوه لنډه کتنه:**

مراد خانۍ چې شاوخوا ۲٦۰ کاله د مخه جوړه شوې ده، د احمد شاه بابا دراني زوی تیمورشاه دراني د هغه وخت یوه بریالي معمار ته ډالۍ کړې وه.
مراد خان یوه تکړه معمار و چې د کندهار د احمد شاهي ښار د معمارۍ او تیمورشاه دراني ته یې د هغه د معمارۍ په برخه کې د پام وړ ارزښت درلود.

کله چې تیمور شاه دراني د افغانستان پلازمینه له کندهار څخه کابل ته ولیږدوله، کندهار د ښار د جوړولو په برخه کې د هغه د هڅو د ستاینې په خاطر یې هغه ته په کابل کې د افغانستان ارګ ماڼۍ ته څېرمه، یوه سیمه ورکړه چې د مراد خانۍ په نوم مشهوره شوه.

مراد خانۍ د افغانستان د پخوانۍ معمارۍ او په ټولیز ډول د کابل ښار د پخوانیو شرایطو نښه ده.

د دې سیمې لویه برخه د اوږدو جګړو، بې وزلۍ او د هغه وخت د حکومتونو د بې غورۍ له امله ویجاړه شوې او یا هم ځینې برخې یې دولتي ادارو ته سپارل شوي دي.

د تاریخي ځایونو د بیا رغولو (احیا کولو) پروژې پراساس، پریکړه وشوه چې د "سترې ماڼۍ" په ګډون ډېری کورونو بیا رغونه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)

...................................................................



**د مراد خانۍ سترې ماڼۍ لید**

په ۲۰۰٦ کې، فیروز کوه بنسټ او افغان حکومت موافقه وکړه چې د کابل زاړه ښار سمبول بیا ورغوي.

ځکه چې د مراد خانۍ سیمه په ۱۳۷۱ کال کې د کمونستي لاسپوڅي حکومت تر نسکورېدو وروسته، د کورنیو جګړو لومړۍ کربنه وه، چې ویجاړه او د کثافاتو په ګدام اوښتې (بدله شوې) وه.

د هغه وخت د حکومتونو پرېکړه چې د مرادخانۍ د ړنګولو او په دې سیمه کې د عصري ودانیو د جوړولو پرېکړه هم د دې باعث (سبب) شوه چې مراد خانۍ په بشپړه توګه هېره شي، حتا د ځینو خلکو له خوا د لرګیو ځینې تاریخي اثار هم غلا شول.
د کابل په ساړه ژمي کې د لرګیو دغه قیمتي ټوټې د کابل د یو شمېر ښاریانو د کورونو د تودولو له پاره د سوند موادو په توګه بدلې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)

................................................................



**د فیروز کوه فرهنګي مرکز له خوا د مراد خانۍ د بیارغونې انځور**

له جګړو وروسته دغه ځای تر ۲۰۰۶ کال پورې په پخوانۍ توګه پاتې شو او اوسېدونکو یې نورو هېوادنو ته کډه او الته یې پر خپل ژوند پیل کړ.

کوڅې له کثافاتو ډکې شوې، د اوبو، برېښنا او فاضله اوبو سیستمونه په بشپړه توګه له منځه تللي او په دې ځای کې د اوسېدو هېڅ اسانتیاوې نه وې.


مراد خانۍ د بیارغونې ټیم له دغه ځای څخه څه باندې ۲۵ زره متره مکعب کثافات راټول کړي او د لاسي ګاډو په وسیله یې له سیمې څخه لېږدولي دي.

ځینې ودانۍ چې ټاکل شوې وه د مراد خانۍ، ځای ونیسي شاوخوا ۴۵-۵۰ کاله وړاندې جوړې شوې وې، خو له نېکه مرغه کورنیو جګړو دغه پلان وځنډاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانی)

.......................................................................



**د مرادخانی کورونو بیارغونې د بهیر انځور**

اوس کوڅې پخې شوي، د اوبو او برېښنا سیستمونه رغول شوي او د فاضله اوبو سیستم هم رغول شوی دی.

په دې ځای کې یوه ښوونځی او یوه کلینک هم جوړ شوی، د دې ځای پاکول او ساتنه په دوامداره توګه، دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**مراد خانۍ د منځني ښوونځي د کوڅې يوه منظره چې د فيروز کوه له خوا رغول شوې ده**

د کابل مرادخانۍ په څو نړيوالو بنسټونو کې هم ثبت شوې چې د فرهنګي او لرغونو اثارو په برخه کې کار کوي.
دا سيمه د نړيوال يادګار بنسټ اود مراد خانۍ په نوم ثبت ده.

دغه راز د آسيا د کلتوري ميراثونو د ساتنې ادارې "يونسکو" په ټوله مراد خانۍ تاريخي سيمه کې يوازينۍ ودانۍ چې د فيروز کوه بنسټ دفتر په کې شتون لري، د لرغونې تاريخي ابداتو او د ستر سرای په توګه ثبت شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)

.................................................................

د دې ځای ټول کورونه، چې د ٦٤ ودانیو په ګډون له ١١٢ څخه زیاتې کورونه (حوېلۍ، ماڼۍ) په کې ګډ (شامل) دي، د افغانستان د کلتوري اثارو په توګه د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې ثبت شوي دي.



یوه انځور د ناستې ځای په مراد خانۍ کې

په مراد خانۍ کې اوس مهال ١١٢ یوه پوړیز، دوې پوړیزې، سراچې او تلپوړ لرونکي کورونه شتون لري، چې تر ٢٥٠٠ ډېر خلک په کې اوسېږي، په لومړي پېړکې ټول ژوندګړ (اوسېدونکي) د دې سیمې رښتي (اصلي) اوسېدونکي وو، خو ورو، ورو د کورنیو جګړو وروسته کابل ښار د نورو سیمو په څېر خلک یې مهاجر شوي، دا مهال د سیمې ډېر شمیر رښتي خلک نه دي راستانه شوي او خپل کورونه یې نورو خلکو ته، په کرایه ورکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مراد خانۍ د زړو کورونو د ارسیو انځور



مراد خانۍ د زړو کورونو د ارسیو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**مراد خانۍ د زړو کورونو د ارسۍ انځور**



**مراد خانۍ د زړو کورونو د ارسۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښار د اعتبار ساتنه:**

د مرادخانۍ په بیا رغونه کې هڅه شوې چې د مراد خانۍ د لومړنیو ودانیو په جوړولو کې له هغو موادو څخه کار واخیستل شي چې د مراد خانۍ د لومړیو ودانیو په جوړولو کې کارول شوي وو.

ډبره، لرګي، ختې او اخېړ د مراد خاني د بیا رغونې اصلي توکي وو.

ښاغلی احمدزی وایي:

د دې ترڅنګ د تاریخي ابداتو د بیا رغولو په برخه کې د سیمې خلکو او نورو ښکیلو خواوو ته د لازمو زده کړو د برابرولو هڅې روانې دي.

په فیروز کوه کې د دغو هنرونو د بیا ژوندي کولو له پاره سرامیک، لرګیو، نقاشۍ، د سرو زرو او خطاطۍ برخو ته پاملرنه شوې ده.

د هغه په وینا، هر کال له دغو څلورو ځانګو څخه شاوخوا څلوېښت تنه فارغېږي او د کار زمینه ورته برابرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)

..................................................................



**مراد خانۍ د یوه کور د بیارغونې انځور**

د راپورونو له مخې، کابل د مراد خانۍ د بیا رغونې له پاره ۲۵ میلیونه ډالر لګول شوي، خو ښاغلی احمدزی وایي، د بیا رغونې له پاره یې د بودیجې کره شمېره نه ده معلومه.

د هغه په وینا، په لومړي سر کې د کابل په دې تاریخي سیمه کې ۷۰ سلنه اوسېدونکي قزلباش وو، خو اوس یې شاوخوا ۳۰ سلنه اوسېدونکي قزلباش دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مراد خانۍ تاريخي اهميت:**

مراد خانۍ د کابل ښارهغه ځای دی چې د ۱۲۹۸ هجري لمريز کال د زمري د مياشتې په ۲۸ مه نېټه د افغانستان ځوان او ملتپال پاچا شاه امان الله خان، د مراد خانۍ په څلور لارې کې د خلکو د خوښيو په ترڅ کې له انګرېزانو څخه د افغانستان خپلواکي اعلان کړه.

د دې ترڅنګ مراد خانۍ يوه وخت د ډېرو دولتي ادارو، د خوراکي توکو د زېرمه کولو ګودامونه، سوداګريز مرکزونو، د سرو زرو، مسو، غالۍ پلورونکو او نورو ګڼو کاروبارونو ځای و.



**د مراد خانۍ د يوه کور د بيارغاونې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)

.....................................................................

د مراد خانۍ شهرت یوازې په پېړ پورې تړلی نه دی.
فیروزکوه د بیا رغونې او انجینرۍ مسؤول هدایت الله احمدزي په وینا، په افغانستان کې لومړنی نوی ښوونځی شاوخوا ۱۱۲ کاله وړاندې د مراد خانۍ په ختیځو ودانیو کې جوړ شو، له هغه وروسته دا ځای یوه کلتوري ځای شو.
هغه ځای چې د افغانستان د مطبوعاتو پلار محمود طرزي د لومړي ځل له پاره د رسمي جریدو(مجلو) په چاپولو او هم د پیسو په چاپولو کار پیل کړ، له دې سره، سره د فیروز کوه بنسټ چارواکو پرېکړه کړې چې دغه تاریخي ځای د یونسکو په سازمان کې ثبت کړي.
دوی وایي:
اوس مهال د دې تاریخي سیمې د بیا رغاونې او ساتنې په برخه کې کار کوي او هڅه کوي چې د کابل د دې لرغونې سیمې ټولې برخې چې شاوخوا هټۍ هم په کې ګډ (شامل) دي، په اصلي بڼه جوړ او د تاریخي اثارو د ساتنې له پاره هڅې وکړي.



**له بیا رغونې وروسته د مرادخانۍ بازار انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فیروز کوه بنسټ:**

د فیروز کوه بنسټ په ۲۰۰۶ کال کې د برتانیې د شهزاده چارلس جورج، پخواني افغان ولسمشر حامد کرزي او سکاټلنډي لیکوال او دیپلومات روري سټوارټ په غوښتنه جوړ شو چې د کارموندنې، مهارتونو د روزنې، د تاریخي سیمو د ساتنې په موخه د کارموندنې او مهارتونو د پیاوړتیا په موخه رامنځته شي.

د افغانانو د ملي هویت احساس دا بنسټ د غور ولایت د مرکز "فیروزکوه" په نوم ونومول شو، چې یوه وخت د زاړه افغانستان پلازمېنه وه.

په دې موسسه کې د افغانستان د هنرونو او معمارۍ ملي انستیتیوټ هم جوړ شوی، چې ۲۰۰ نارینه او ښځینه په کې د ترکاڼۍ، خطاطۍ، نقاشۍ، میناتورۍ، ګاڼو جوړولو او د قیمتي ډبرو د پرې کولو په برخه کې روزل کېږي.

دا انستیتیوټ په څلورو څانګو کې د نارینه او ښځینه صنعتکارانو د نوي نسل د روزلو له پاره، داوطلبانو ته په دریو کلونو کې روزنه ورکوي.



**په ستر(لوی) سرای کې داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مهال د دې کورسونو یو شمېر فارغان د فیروز کوه بنسټ په دفتر کې ورکشاپ لري چې خپل تولید شوي توکي بازار ته وړاندې کوي.

ښوونکو د څه باندې ۲،۵ میلیونه ډالرو په ارزښت افغاني صنعتي تولیدات پلورلي دي.

د فیروز کوه بنسټ یوه نړیواله غیر انتفاعي موسسه ده چې مرکزي دفتر یې په کابل کې دی او د افغانستان د معمارۍ او عنعنوي صنایعو د تاریخي ساتنې په برخه کې تمرکز کوي، دې بنسټ په ۲۰۱۳ کال کې د یونسکو له خوا د اسیا (ایشیا) د کلتوري میراثونو د ساتنې جایزه د افغانستان د لویې (سترې) مانۍ یا سرای د بیا رغاونې په خاطر ترلاسه کړه.



د لوې مانۍ داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)

.................................................................

د ټولو تاريخي ځايونو په څېر، کله چې تاسو د افغانستان ولسمشرۍ ماڼۍ ته نږدې مراد خانۍ ته ننوځئ، تاسو کولی شئ د دروازو او ديوال څخه تاريخي او زوړتوب احساس کړئ.

د دې ځای په فضا کې د خټو ديوالونو، دروازو او د لرګيو بندونو څخه د نم (رطوبت) بوی شتون لري.

د دې تاريخي ځای ودانۍ ټولې له خټو او لرګيو څخه جوړې شوي دي.

د فيروز کوه بنسټ د څېړنو له مخې، د مراد خانۍ معمارۍ د اسلامي ښارونو په شکلونو کې ريښې لري چې له هسپانيا څخه تر هند پورې ليدل کېدی شي. د دې کوڅې، څار برجونو او سراچو لاندې قوي دروازې لري.

د دې ځای لنډې دروازې او پوښل شوي کوڅې د دې ځای د ځانګړي ډول دفاعي سيستم ځرګندونه کوي.

په داسې حال کې چې په نورو اسلامي ښارونو کې دروازې داسې دي، چې دوه بار لرونکي اوښان او يو اس (اسپ) سپور په يوه وخت کې له ښکته کېدو پرته، دې ښارونو ته ننوځي، خو د کابل په مراد خانۍ کې دا توپير لري.

يوه له بل سره نږلي کورونه او دټيټو لرګيو چتونه، چې يوازې پياده خلک ترې تېرېدلی شي په پخوانيو وختونو کې په دې ځای د ټينګ (کلک) امنيتي سيستم پلي کيدو په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د لويې مانۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لویې مانۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)

........................................................................



**د لويې ماڼۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرادخانۍ ـ کابل د زاړه ښار سمبول:**

مراد خانۍ د افغانستان د پخوانۍ معمارۍ نښه ده او په ټولیز ډول د کابل ښار د پخواني جوړښت استازیتوب کوي.
په ۲۰۰٦ کې، فیروز کوه بنسټ او افغان حکومت موافقه وکړه چې د کابل د زاړه ښار سمبول بیا ورغوي.
د فیروزکوه بنسټ د انجینرۍ څانګې مشر او د دغه بنسټ د مراد خانۍ دفتر مشر هدایت الله احمدزي په وینا، د مراد خانۍ سیمه په ۱۳۷۱ کال کې د کمونیستي حکومت تر نسکورېدو وروسته د کورنیو جګړو لومړۍ کرښه وه، چې له امله یې ویجاړه شوه، دا تاریخي ځای د کثافاتو په ګدام بدل شو.
هغه وایي، د هغه وخت د حکومتونو پرېکړه چې د مراد خانۍ د ورانولو او په دې سیمه کې عصري ودانیو د جوړولو پرېکړه هم د دې لامل شوه چې مراد خانۍ په بشپړه توګه هېره شي، حتی د هغه یو شمېر تاریخي او بې ساري لرګي هم غلا شوي دي.
د کابل په ساړه ژمي کې د لرګیو دغه قیمتي اثار د کابل ښاریانو د کورنو د تودولو له پاره د سوند موادو په توګه بدل شول.
د جګړو وروسته، دا ځای تر ۲۰۰٦ پورې پرېښودل شو او اوسیدونکي یې کډوال شول.
د ښاغلي احمدزي په خبره، کوڅې له کثافاتو ډکې شوې او د اوبو، برېښنا او فاضله اوبو سیستمونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي ول.
په دې ځای کې د اوسېدو له پاره اسانتیاوې نه وې.
ښاغلی احمدزی وایي:
د مرادخانۍ د بیا رغونې ټیم له دغه ځای څخه ۳۳ زره متره مکعبه کثافات ایستلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مراد خانی کوڅې:**

د مراد خانی کوڅې بیلابیل پلنوالی لري او په مستقیمه لاره کې نه دي، دا کوڅې تاوې راتاوې (منحني) دي چې ځایي خلک ورته "ډیو ډیوک" وایي.

د لارو(کوڅو) پلنوالی له ۱٤۰ سانتي مترو څخه پیل کیږي، ځینې یې ۱۹۰ سانتي متره او بیا ځینې نور یې ۲۱۰ سانتي متره دي.

د یوې کوچنی کوڅې پیل تنګ وي او بیا پراخیږي، یا برعکس، چې په پیل کې پراخه وي او بیا تنګ وي، مګر دا د بېګانه (اجنبي) یرغل څخه سیمې د ساتنې او کنټرول له پاره جوړې شوې دي.

همدارنګه د دې کار له پاره د کوڅو په پیل یا د کورنو په پورته پوړونو کې د خورا مهم امنیتي ټکي یا د مالک اړتیا وه سره کوټې جوړې کړي، چې ځینې وختونه د سیمې خلک داسې کوټو ته سراچه (بالا خانه یا میلمستون) هم وایي، او دا ټول ډیزاین د دفاعي موخو له پاره جوړ شوي دي.

د هرې سراچې لوړوالی توپیر لري، مګر ځینې یې له موجوده ځمکې (فرش) څخه د ودانی تر پایه ( د سراچې تر پوښښ لاندې) یا د کور تر پورتنی برخې پورې له ۱۷۰ سانتي مترو څخه تر ۲۱۰ سانتي مترو پورې لوړوالی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د سراچې یا بالا خانې د لاندې برخې انځور**

دا ودانۍ د کوڅې په دیوالونو جوړې شوې دي، چې یوه برخه یې د کور خاوند له دیوال څخه پورته او بله یې د ګاونډ دیوال څخه پورته دی، په داسې ډول چې اصلي وزن (بار، لوډ) یې د کوڅې په څنګ کې جوړ شوي دیوالونو باندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د سراچې د لاندنۍ برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځینو کورونو د ننوتلو دروازې د سراچې لاندې دي، دا د سراچې دهلیزونه ښایسته دیوالونه لري، په ځنډو (طاقونو) سره سینګار شوي چې په دیوالونو کې لیدل کېږي.



**د سراچې لاندې، د سینګار شوي دیوال انځور**

د دې تاقچو(طاقچو، تاخچو) لوړوالی ۱۲۵ سانتي متره دی، پلنوالی یې ۸۵ سانتي متره او د کمان (ارچ) ژوروالی ۲۰ سانتي متره دی.

دیوالونه، د ډبرو تهدابونه لري او په دوې برخو ویشل شوي:

۱. غرقه ( د ځمکې لاندې سنګ کاری)
۲. کرسي (د ځمکې د پاسه سنګ کاری)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرقي ژوروالی اکثرآ ۸۰ سانتي متره، مګر د کرسي لوړوالی ۱۵۰ سانتي متره دی.
د سراچې په یوه اړخ کې د بیمونو وزن د ګاونډیو په دیوال نه بلکه د ډبرې کارۍ (سنګ کارۍ) څخه پورته د نوي جوړ شوي دیوال باندې حساب(محاسبه) شوي، ترڅو ډبرې کاري په سر کې چارتراش یا څلور اړخه لرګي کېښودل شوي دي چې د بیم په نوم یادیږي، بیا د بیم لاندې په ښي خوا کې د لرګیو ستنې په عمودي توګه تنظیم شوي، وروسته د بیم پورتنۍ برخه د ستنو په سر کې کېښودل شوې ده او د چت د پوښلو کارونه په زیرکۍ (احتیاط) سره ترسره شوي دي.

د پوښښ دستک (ګول) لرګي د ګاونډي شاوخوا دیوال ته هیڅ ډول زیان یا وزن نه دی اضافه کړی، دا په دریو مواردو کې ترسره شوی دي:

۱. که چېرې د ګاونډي دیوال د حساب شوي وزن د اخیستلو توان نه درلود.

۲. که چېرې ګاونډي نه غوښتل چې شاوخوا دیوال یې ګډ (شریکه) وي.

۳. که چېرې ګاونډي نه غوښتل چې د هغه ګاونډی، داسې سراچه جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ګاونډ د غاړې دیوال د بیمونو او لرګیو کالمونو انځور



د بیم سر او د لرګیو کالمونو سره د ګاونډی اړخ دیوال انځور (پوښښ برخه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سیمه یوه کوچنی ښار بلل کېدی شي، ځکه چې دا سیمه شپږ کوڅې لري، چې په لاندې ډول دي:

**د افشارو کوڅه:**

دا د مرادخانۍ یوه له مشهورو لارو (کوڅو) څخه ده چېرې چې اصلي خلک او د نادر افشار د لښکر څخه ژوندي پاتې شوي ول دلته یې ژوند کوه.



د افشارو کوڅه (لار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پنځه تنو کوڅه:**

د يادې شوې کوڅې نوم د حضرت محمد (ص)، حضرت علي (رض)، حضرت فاطمه الزهرا، حضرت امام حسن او حضرت امام حسين (رض) له نومونو څخه اخستل شوې ده، چې د پنځه تنو کوڅې په نوم يادېږي.

په دې کوڅه کې يوه مشهوره زيارت هم شته چې دا زيارت هم د پنځه تنه (پنج تن) نومېږي او هره ورځ لسګونه کسان ورته ورځي.




**د پنځه تنو (پنج تن) زيارت لوحه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د پنځه تنو (پنج تن) زیارت د لوی دروازی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**پنځه تنو (پنج تن) زيارت د کړکی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**پنځه تنو (پنج تن) زيارت د ننه ( داخلي) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د زيارت کوڅه:**

په دې کوڅه کې يوه ډېر مشهور او تاريخي زيارت شتون لري، چې د حضرت ابوالفضل عباس زيارت په نوم يادېږي او هره ورځ لسګونه کسان ورته د لمانځه او زيارت له پاره ورځي، ځکه دا کوڅه په همدې نوم مشهوره ده.




**حضرت ابوالفضل عباس زيارت د کوڅې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د میداني کوڅه:**

یوه ډیره په زړه پورې کوڅه چې د ډیر زاړه جومات له پیل سره پیل کیږي، په پیل کې یې یوه ښکلی او تاریخي بالاخانه (سراچه) هم شتون لري.



**د میداني د کوڅې انځور**



**د میداني د کوڅې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ممیزو خرڅولو کوڅه:**

د مراد خاني یوه له مشهورو کوڅو څخه ګڼل کېږي چې ممیز په کې پلورل کېدل، لومړی دلته د کابل له بېلابېلو ولسوالیو څخه ممیز راوړل کېدل او بیا د کابل ښار ټولو سیمو او د افغانستان نورو ولایتونو ته لیږدول کېدل.



**د ممیزو د کوڅې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د املې (عملې) کوڅه:**

په دې کوڅه کې هغه خلک چې له پاچاهانو او وروسته ولسمشرانو پورې تړلي وو، لکه نامتو لیکوالان، مشاورین، د معمارۍ، هنر، ساختماني علومو، ټیکنالوژۍ خلک اوسېدل او د اړتیا په وخت کې به په اسانۍ او مستقیمه توګه له هغوی سره اړیکه نیول کېدله.



عملې د کوڅې انځور


(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مراد خانۍ بازارونه:**

مراد خانۍ درې مشهوره بازارونه درلودل چې په لاندې نومونو یادېدل.

**۱- د زیارت د کوڅې بازار** - (مرادخانۍ بازار او د کرېږ(قیر) سړک په اوږدو کې)



**زیارت د کوڅې بازار زوړ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)



**زيارت د کوڅې بازار نوی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





زیارت د کوڅې بازار کوم چې د کابل سیند او کرېږ سړک پر غاړه پروت دی، نوی انځور



زیارت بازار د یوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





زيارت بازار د يوې څنډې انځور



زيارت بازار د يوې څنډې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ - د نادر پښتون سړک بازار:

دا بازار پخوا په مراد خانۍ پورې اړه درلوده او د مراد خانۍ په ساحه کې هیڅ ډول کانکریټي ودانۍ نه وې، د وخت په تېرېدو او د پخوانیو حکومتونو د بې غورۍ له امله ورو،ورو پورتنۍ بازار په کانکریټي ودانیو بدلې شوې او یوه برخه یې د دولتي ادارو له پاره وکارول شوه، او په یوې څنډه کې یې د آریانا په نامه سینما هم جوړه شوه.
دا مهال د پښتونستان چوک (د اوبو له فوارې) څخه تر خښتي پله (پول، پل) پورې سړک، دواړه خواوو ودانۍ له ساده بڼې نه په کانکریټي ودانیو بدلې شوي دي.



د نادر پښتون بازار زوړ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د نادر پښتون بازار زوړ انځور**



**د نادر پښتون بازار نوی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**نادر پښتون  بازار نوی انځور (د بازار د ننه یعني خیر خواه مارکیټ د اور لګیدو وخت ۲۰۱۸)**





**د نادر پښتون بازار نوی انځور (د اوبو فوارې خوا ته)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**- د کوڅې بازار (خیابان بازار)**

دا بازار له پل باغ عمومي څخه پیلېده او د ښتو له پله (پل خشتی) سره نښلول کېده، خو د تېرو حکومتونو د بې غورۍ او د دغې سیمې ودانۍ ، د دولتی ادارو او کانکرېټي ودانیو په بدلولو سره دا بازار د مرداخانۍ سیمې نه و ویستل شو او اوس مهال د فروشګاه د بازار په نامه یادېږي.



**د کوڅې بازار (خیابان بازار) د روغتون غاړې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د  کوځې بازار (خیابان بازار) د روغتون غاړې انځور**



**د  کوځې بازار (خیابان بازار) د روغتون غاړې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






د کوڅې بازار (خیابان بازار) د روغتون غاړې انځور



د کوڅې بازار (خیابان بازار) د روغتون غاړې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د  کوڅې بازار (خیابان بازار) د روغتون غاړې انځور



د خښتو د پول (پله) یوه زوړ انځور چې د کابل سیند په سر جوړ شویو

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کوڅې بازار (فروشګاه) نوی انځور**



**د کوڅې بازار (فروشګاه) نوی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کوڅې بازار (فروشگاه) نوی انځور**



**د یوه پیسګي پله پخوانی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د یوه پیسګي پله اوسنی انځور

په مراد خانی او زیارت کوڅه کې زاړه دوکانونه (هټۍ) په لاندې ډول دي:
- د آهنګرۍ هټۍ، د لاستي جوړونې (د بېلچې لاستي، بېل، کلنده، ښتېک، او نور د کیندنې او کرنې وسایلو لاستي)



آهنګرۍ د هټۍ داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





آهنګرۍ د هټۍ داخلي انځور



آهنګرۍ د هټۍ بهرنۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**آهنګری د هتۍ بهرنی انځور**



**د لاستو جوړوني هتۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د هټیو بهرنی انځور

د ربړي وسایلو پلورنځي چې د زړو او کارول شویو ټایرونو څخه جوړ شوي، لکه د اوبو د څاه ډولې (ډولچې)، د ساختماني موادو د لیږد له پاره ډولچې (سطلونه)، ربړي رسۍ، ربړي لوی جوالونه، د څارویو د ابو څښلو تشتونه او داسې نور.



ربړي وسایلو د هټۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ربړي وسايلو د هټی انځور



د ربړي وسايلو د هټی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





ځارويو د اوبو څښلو تشت چمتو کولو د پروسې انځور




ځارويو د اوبو څښلو تشت چمتو کولو د پروسې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ځارويو د څښناک تشت د پلور انځور



ځارويو د اوبو څښلو تشت چمتو کولو د پروسې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ځارویو د څښاک تشت د پلور انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ربړي رسیو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ربړي میز انځور



د ربړي واشلو جوړوني انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ربړي واشلو جوړوني انځور



د ربړي واشلو جوړوني انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ربړي واشلو جوړوني انځور



د ربړي څوکيو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ربړي ميزونو انځور**



**د ربړي وسايلو د هټيو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ربړي او پلاستيکي پلورنځيو بهرنی انځور

## - د سرو زرو هټۍ



د زيوراتو د پلورنځي داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـ د ګوتو هټۍ**



**د يوه ګوتې پلورنځي داخلي انځور**



**د يوه ګوتې پلورنځي بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ د حکاکۍ او کيندنې کارځای



د کيندنې کارځای څخه يوه داخلي انځور



د کيندنې کارځای څخه يوه داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کيندنې کارخای څخه یوه داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د کیندنې کارځای څخه یوه داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کیندنې کارځای څخه یوه داخلي انځور

## - خوراکي توکي



د پرچون پلورنځیو څخه یو بهرنی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ دسمال خرڅلو پلورنځی



د یوه دسمال پلورنځي بهرنی انځور

## ـ د کاله لوښو (کور وسایلو) پلورنځي



د کاله لوښو پلورنځی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د وسایلو پلورنځیو څخه یوه بهرنی انځور

## ـ کور د اړتیا وړو وسایلو (خورده) هټۍ



کور د اړتیاوړو وسایلو (خورده) هټۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





کور د اړتیاوړو وسایلو (خورده) هټۍ بهرنی انځور

## - د رنګونو پلورنځی




د رنګونو پلورنځي څخه یوه بهرنی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ ساختماني مواد



**د ساختماني موادو د پلورنځي څخه یوه بهرنی انځور**




**د ساختماني موادو د پلورنځي څخه یوه بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ انځور اخستنه او فوټوکاپي




د انځور اخستنې او فوټوکاپۍ هټۍ څخه یوه بهرنی انځور




د انځور اخستنې او فوټوکاپۍ هټۍ څخه یوه بهرنی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ د پلیو د نینې کولو هټۍ




د نینو پلورنځي څخه یوه داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - د پلاستیکي کڅوړو پلورنې هټۍ



د پلاستیکي کڅوړو پلورنې هټۍ یوه بهرنی انځور

## - قصابی




د قصابی بهرنی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ اتاري (عطاري) او یوناني طب




**د اتاري (عطاری) او یونانی درملو پلورنځي بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ د لرغونو توکو پلورنځي



د لرغونو توکو پلورنځي زوړ بهرنۍ انځور

## ـ خوراکي توکي



د خوراکي توکو پخوانۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د خوراکي توکو اوسنی انځور**

## ـ د ګاڼو پلورل او ترمیم




**د زیوراتو پلورنځیو او ترمیم بهرنی انځور**


(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مراد خاني اسانتياوې:**

مراد خانۍ ښاري اسانتياوې لري لکه:

- د ابو فضل العباس زيارت



**د ابو فضل العباس زيارت بهرنۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نانوایی (بیکری)



**دنانوایي بهرنی انځور**

- د مراد خانی منځنی ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ښوونځي د کوڅې بهرنی انځور**



**د ښوونځي د انګړ بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ښوونځي ټولګي داخلي انځور**



**د ښوونځي ټولګي داخلي انځور**



**د ښوونځي د انګړ داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - د فیروز کوه روغتیایي کلینیک




**د فیروز کوه روغتیايي کلینیک بهرنی انځور**



**د فیروز کوه روغتیایی کلینیک داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درملتونونه




**د درملتون بهرنی انځور**

- د کوچني تولیدي وسایلو ځای



**د کوچني تولیدي وسایلو ځای داخلی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نقاشۍ ټولګي داخلي انځور



د زرګرۍ ټولګي داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د بوټانو ترمیم



**د بوټ ګنډلو  د یوه موچي انځور**

- د مراد خانی نارینه زوړ حمام




**د مراد خانی نارینه زاړه حمام انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د مراد خانی نارینه زاړه حمام انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د مراد خانی نارینه زاړه حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






د مراد خانی نارینه زاړه حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**مراد خانی نارینه زاړه حمام د چت انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د مراد خانۍ نارینه زاړه حمام د جامو بدلولو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**مراد خانی نارینه زاړه حمام د دروازی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوماتونه:**

- د بي بي زينب جامع جومات



**د بي بي زينب جومات بهرنۍ انځور**



**د بي بي زينب جومات بهرنۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د بي بي زينب جومات بهرنی انځور (د عاشورا په ورځ)**




**د بي بي زينب جومات بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - د میداني جامع جومات



**د میداني جامع جومات د دروازې بهرنۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د میداني جامع جومات بهرنی انځور



د میداني جامع جومات داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ميداني جامع جومات د کړکۍ يوې برخې انځور**

- د ابوالفضل العباس جومات



**د ابوالفضل العباس لوی زيارت جومات بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ابوالفضل العباس زيارت جومات د منار بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دوې چایخانې



**د چایخانې بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د چايخانې بهرنۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - زوړ کابل رستورانټ




**د کابل زاړه رستورانټ بهرنی انځور**




**د کابل زاړه رستورانټ بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د کابل زاړه رستورانټ ( د بیا رغونې) بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د کابل زاړه رستورانټ ( د بیا رغونې) بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د کابل زاړه رستورانټ ( د بیا رغونې) بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کابل زاړه رستورانټ ( د بیا رغونې) بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ککرو رستورانټ (کله پزي)




**د نجیب کله پزۍ بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






د حمید کله پزۍ بهرنۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سلماني (دلاک، بربر)




**د سلماني بهرنی انځور**

- سقاوې




**د سقاوې بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نانوايي (بيکري)




**د بیکرۍ بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ویلډینګ کاري



**د ویلډینګ کارۍ داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ناستې ځایونه (څپرې، چتې)



د ناستې ځای (چتې) انځور (بیا جوړ شوی)




د ناستې ځای (چتې) انځور (بیا جوړ شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ناستي ځای (چتې) انځور (بیا جوړ شوی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په مراد خانۍ کې تکیه خانې:**

په مراد خانې کې نهه تکیه خانې شتون لري، چې په لاندې نومونو یادیږي:
حاجي محسن، علي جان، کوچه املا، یعقوب، شاه قل، محمود، سید اکبر، محب، نبي جان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................




**د حاجي حسن شاقل د تکیه خانې بهرنی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په مراد خانۍ کې ښوونځي:**

د عامه ښوونځیو سربېره، خصوصي مسلکي ښوونځي هم شتون لري لکه:

- د سرو زرو ښوونځی

په دې ښوونځي کې زده کوونکي د پلان او شکل په نظر کې نیولو سره د زیورونو د تولید او ترمیم په برخه کې روزل کیږي، ترڅو دوی د معیارونو سره آشنا شي، د بازار تقاضا پیدا کړي او په راتلونکي کې د کیفیت لرونکي تولید شوي مواد بازار ته وړاندې کړي.



**د سرو زرو ټولګي داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سرو زرو ټولګي داخلي انځور

- د خطاطۍ اومیناتورۍ ښوونځی

دا د ننني ټولنې یوه له مهمو ښوونځیو څخه دی، چېرې چې زده کونکي کولی شي د خطاطۍ هنر، نقاشي او میناتوري زده، د رنګونو ترکیب او له ځایی توکو څخه یې چمتو کړي.



د خطاطۍ او میناتورۍ ټولګي داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د خطاطی او میناتوری ټولګي داخلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د خطاطۍ او میناتورۍ انځور**



**د خطاطۍ او میناتورۍ د موادو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ختېنو لوښو جوړولو(کلالۍ) ښوونځی

په دې ښوونځي کې زده کوونکي د موادو د تولید له نویو میتودونو، د لوښو د چمتو کولو له اړتیا سره اشنا کېږي او په راتلونکي کې کولای شي خپل د تولید پلورنځي ولري.



کلالۍ د ټولګي انځور



کلالۍ د ټولګي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کلالی انځور



د کلالی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مراد خانۍ سیمه کې د خیاطۍ یوه ښوونځی هم شته چې بریالي او تکړه زده کوونکي یې په افغاني ټولنه کې ونډه لري.

د مراد خانۍ سیمه په یوه کوچني ښارګوټي بدله شوې، دغه ښارګوټی د اوبو رسولو مرکزي سیستم لري، چې تر اوسه نه دی فعال شوی، یعنې اوبه په کې نه ځي.

مراد خانۍ یوه ساده کاناليزاسيون سیستم لري چې تقریباً د کوڅو په منځ کې تېرېږي، دا سیستم چې په نالیو(کوچني بیالو) کې بهېږي، ټول پوښل شوی دی، داسې ښکارې چې په پایله کې د کابل سیند سره نښلول شوی دی.



**کاناليزاسيون د سر پوش انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د فيرو کوه په نوم يوه موسسه د مرادخانۍ په بيا رغونې کې بنسټيز رول لوبوي چې تل يې هڅه کړې مراد خانۍ د کانکريټو له يرغل څخه وژغوري، خو له دې سره هم مهاله يې په شمال ختيځه برخه کې يوه درې پوړيزه نوی جومات هم جوړ شوی چې د محمود خان پله څخه مراد خانۍ ليد مخه نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استوګنې (هستوګنۍ) کورونه:**


په مراد خانۍ کې د استوګنې ډېرى ودانۍ له هټيو نه پرته دوې پوړيزې تلپوړي دي، چې په هغه وخت کې د اضافي موادو او وسايلو د ساتنې په توګه کارول کېدې، هغه توکي چې په اوړي کې نه کارول کېدل او يا هم د ژمي له پاره د سون (سوند) توکو د ذخيره کولو په توګه کارول کيده.



**يوه کور د لويې دروازې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د یوه کور انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د هستوګني د کورونو د یوې ارسی انځور



د یوه پخواني کور انځور (د طاوس کور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حویلی یوه دالان (ویستیبل)، یوه زینه، د اوسیدو خونه (سالون)، د خوب خونې او یوه حمام ( د ځان منځلو ځای) لري.

د کور تنور خونه او تشناب د حویلی څنګ کې په پام کې نیول شوي دي چې کوڅو ته د ککړو اوبو وتلو لارې لري.

ډیری ودانۍ پخلنځای نه لري او د کال په دریو فصلونو کې په همدې دالان (دهلیز) کې پخلی کوي، مګر ژمي په سړو ورځو کې د کور بخاریو او چریو پر سر پخلي کوي.

ډېری د خوب خونې او حمامونه د اوسېدو خونو سره لار لري، همدا راز د اوسېدو خونې تر ټولو خونو لویې دي.

کوټې د رڼا، لمر وړانګو او د هوا د تبادلې په موخه دواړو خواوو ته کړکۍ لري.

هغه کړکۍ چې د غولي (حوېلۍ ) خوا موقعیت لري لوی او کلاسیک سټایل لري، مګر هغه کړکۍ چې د کوڅې خوا ته ایښودل شوی دي، خورا کوشنۍ او ساده دي.

په کوڅوکې د کړکیوله شکل څخه داسې ښکاري چې دا کړکۍ یوازې د هوا تبادلې له پاره په پام کې نیول شوي دي.

هغه لویې کړکۍ چې د غولي خوا ته ایښودل شوي دي د اورسۍ په نوم یادېږي.

د دې ارسیو پلنوالی اکثرآ ۱۲۰/۱۱۰ سانتي متره دي، او د پرانیستې برخه، چې د پلې په نوم یادېږي او پورتنۍ خوا ته لېږدول کیږي، له ۹۷ څخه تر ۱۰۰ سانتي مترو پورې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ارسۍ له دريو څخه تر څلورو پورې پلې او د ۴۰ سانتي مترو لوړ بنسټ (بيس، اساس او يا زيرانه) لري.

دا بنسټونه د لاندې اهدافو له پاره په پام کې نيول شوي دي:

۱. چې تکيه وکړي،

۲. د غولي په لور وګوري

۳. د ماشومانو د لوېدو، مخه ونيسي.

په ځينو ودانيو کې، له بنسټ څخه پورته، د بيلګې په توګه، د هرې ۱۵ سانتي مترو وروسته، د يوه لرکي (چفتي) په دواړو خواوو کې بهرخوا نه تړل (کلک) شوي دي، ترڅو د ماشومانو د لوېدو مخه ونيسي.

ځکه چې د دريو او څلورو پلو د پورته کولو په صورت کې د بنسټ تختې لوړوالی خوندي نه دی او د احتياط له پاره هماغه لرګي يا چفتي په پام کې نيول شوي دي.

د پلو اوږدوالی۹۷ سانتي متره او لوړوالی يې ۴۵ سانتي متره دي، د پلو پلنوالی (ضخامت) له ۳ څخه تر ۵ سانتي مترو پورې دي، ترڅو د کورنۍ غړي د پورته کولو او ښکته کولو وړتيا ولري.

دا پلې د اړتيا په وخت کې، په پورتنۍ برخه کې يوه اړخ ته اړول کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلو پورتنۍ او لاندنۍ برخې سره توپير لري، ځکه چې په پای او منځ کې د ګردي لرګي په ډول دي، دا لرګي د جوک په نوم يادېږي.

پلو د پورتنۍ برخې په مينځ کې غوچونې شتون لري ترڅو دويمه پله په آرامۍ سره د لومړۍ پلې په سر کې کېښودل شي کوم چې د هوا او روښنايۍ ليږد مخه نيسي.

په ډېرى کورونو کې، شيشې هم د پلو په پورتنۍ يا پاى کې ليدل کېدى شي، کوم چې کوټې ته د رڼا ليږد په ګوته کوي.

د ټولو ارسۍ لوړوالى ۱۹۰ سانتي متره دي او د سينګار سره د کمان په څير ښکاري.

مګر د بازو (اړخ) لوړوالى په دواړو خواوو يا د کمان پيل ته د ارسۍ اصلي شکل ۱۱۷ سانتي متره دي.

د هرې ارسۍ، بهرنۍ او داخلي بڼه يوه څه توپير لري.

د ودانۍ په هر اړخ کې د کمان يا آرچ په څير، ډير لوړ کيفيت او ښکلي نقاشي لري.

د ارسۍ لاندينۍ برخه يوازې چوکاټ لري او سينګار شوي داخلي او بهرني دوې ښکلې تختې لري، دا تختې ساده او کوم سوري هوا د تبادلې (جريان) له پاره، نه لري.

ارسيو د پورتنۍ برخې پرته، د ارسۍ بنسټ اندازه، د بيلګې په توګه ٤۰ سانتي متره، د هوا او رڼا تبادلې له پاره د سوري لرونکي تختې سره ليدل کېدى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ارسی انځور



د ارسی پورتنۍ برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ارسی لاندنی برخې انځور**



**طاوس کور د ارسۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د ارسئ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د ارسی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د ارسی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارسۍ د بهرنۍ څنډې په دواړو خواوو کې، په یوه ډېر پخوانی کور کې، د طاوس شکل لیدل کېږي، نو په همدې توګه دا کور، د طاوس کور په نامه یادېږي.



طاوس د کور ارسۍ پخوانی انځور



طاوس د کور ارسۍ نوی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلپوړ کې چې د لرګیو نه پوښل شوی دی د کړکې پر ځاي سوری، سوری ښکلې او کیندل شوې تختې لري.

دا تختې د کابلی جالئ په نوم یادېږي، چې د تلپوړ (تهکوئ) کې هوا د تبادلې او د روښنایي په موخه کارول شوي دي.

دا تختې د ځمکې ( فرش) څخه د تلپوړ (تهکوئ) پوښ پورې ټول لوړوالی ٦٠ سانتي متره دی.

د تلپوړ لوړوالی د ځمکې (فرش) څخه تر چته پورې په ډېری کورونو کې ۱۹۰ سانتي متره دی.



**طاوس د کور د تلپوړ جالئ د یوې برخې (انځور)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارسيو ساختماني برخې اکثرآ د لوړ کيفيت اصلي ارچه لرګي دي او ځينې يې کور مالک د ځانګړي فرمايښت (فرمايش) سره سم د چارماغو (چهارمغز) لرګيو څخه جوړ شوي دي.

دا ارسی هېواد د تکړه ترکاڼو او تجربه لرونکو کارګرانو له خوا په خورا زړه پورې او ښکلي سينګار سره جوړې شوې دي.

يوه ډير مهم ټکی دا دی چې د داسې لرګيو په جوړولو کې د ساختماني ميوګيو(مېخ) کارول په هيڅ ډول نه ليدل کيږي.

په دالان (دهلېز) کې د حويلی زينو يا دالان ته د ننوتلو څو ګامه مخکې، پوښښ په پام کې نيول شوی دی.

د زينې پلنوالی معمولآ له ۱۲۰ څخه تر ۱۳۰ سانتي مترو پورې دي او د پتې لوړوالی معمولآ له ۲۵ څخه تر ۳۷ سانتي مترو پورې دي.

زينې په خورا کوچني او محدود ځای کې په پام کې نيول شوي، د زينو ډيزاين د لرګيو اساس يا ګردي لرګي (ګول) شاوخوا د دوراني (مدوره، سېرکل) زينو په شان جوړې شوې دي.

دا زينې د نورو زينو په پرتله دومره آرامې نه دي، ځکه د ګام يوه اړخ يې تنګ (لنډ) او بل اړخ پراخ (سور لرونکی) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساختماني مواد يې له لرګيو، خټو او اومه خښتو څخه دي او د زينې د مخ په پورتنۍ برخه کې له لرګيو څخه کار اخيستل شوی دی تر څو کاروونکي ترې په ښه توګه استفاده وکړي او د پورته کيدو او ښکته کيدو په وخت کې د کورنۍ د غړو د لوېدو(غورځېدو) لامل نه شي.

دا زينې د کاروونکو خصوصاً د کورنۍ غړو له پاره عادي دي، مګر دا د ميلمنو له پاره چې د ښار بيلابيلو سيمو څخه راځي، ډېر ستونزمنې دي، چې بايد د ښکته او پورته کيدو په وخت کې ډېره پاملرنه (احتياط) وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**طاوس د کور لمړی پوړ زينې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





طاوس د کور دوهیم پوړ زینې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





طاوس د کور دوېيم پوړ زينې ځټ (شا) انځور



يوه کور لمړي پوړ زينې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننوتلو دالانونه (دهلېزونه، ویستیبول) اکثرآ پرته له دروازو څخه دي او څوو کورونو دالانونه د دروازو سره لیدل کېږي



**د یوې حویلۍ بهرنۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د یوې حویلی د زینې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**طاوس کور د دالان د يوې برخې انځور**

د دالان دروازې اکثره دوې پلې لري او يوه پله يې دروازې په حوېليو کې په ندرت سره ليدل کېږي.

دا مفکوره ښيي چې اکثراً د دروازې يوه پله (ترازه) کارول کيږي او يوازې د اړتيا په وخت کې دواړه کارول کېدی شي.

د دالان (دهليز) د ډيرو دروازو لوړوالی ۲۱۰ سانتي متره او د هرې پلې پلنوالی ٦۰ سانتي متره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټو دروازې او په ځانګړې توګه د مېلمنو د کوټې دروازې په لوړوالي کې تر نورو دروازو ټيټې دي، چې اصلي موخه يې د کورنۍ لويې خونې ته د ننوتلو د مخه سر ښکته کول دي چېرې چې د ميلمنو عبادت او ښه راغلاست (استقبال) کېږي.

د ميلمه کوټې دروازې پلنوالی له ۹۰ سانتيو څخه او لوړوالی يې هم له ۱۵۰ سانتي مترو څخه کم دي.

د اوسيدو(ميلمه، سالون) خونې څخه د خوب خونو ته دروازې لري کومې چې دوې پلې لرونکي دي.

د ا دروازې په ښکلي سينګار سره جوړې شوې دي، او د دې دروازې څخه پورته يوه رپک (چوکۍ ، کرنيز يا کارنيس) ليدل کيدی شي.

د رپک (کارنيس) څخه پورته، يو آريشي ښه په ورته يا سميټ شکل کې ليدل کېدی شي.

د ډيری خونو لوړوالی، د استوګنې خونې په ګډون (شمول) يا ميلمستون، د فرش څخه تر چت پورې ۲۳۰ سانتي متره دی.

يوه په زړه پوری شی چې په دې کورونو کې ليدل کېدی شي، د دروازې قوي اړم دی، کوم چې په ننني ټيکنالوژۍ کې د دروازې سټيپر (Door stopper) په نوم يادېږي.

خو په مراد خانۍ کې هغه وخت دا وړه وسيله شتون درلود چې د خلک خوښه، چې څومره يې زړه وغواړي، د دروازې د درولو (بندولو) له پاره ترې کار اخستلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن ورځې میخانیکي ډور سټپر (Door stopper) دروازې بندونکي دا وړتیا نه لري او کولی شي یوازې په خپلې ټاکلې برخه کې دروازه ودروي.



د دروازی درونکي (Door stopper) انځور

په ډیری کورونو کې د لرګیو تکیه (پیزاره، سکرټینګ) یا (Skirting) لیدل کیدی شي چې ټول لوړوالی یې ۷۰ سانتي متره دی، او دا تکیه د اسلامي طرز ځانګړی سینګار لري.

په لاندینۍ او پورتنۍ برخه کې سینګار توپیر لري، مګر لوړوالی یې یو شان دی، په پورتنۍ برخه کې نهه سانتي متره او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته کې نهه سانتي متره دی، دې طرز ته په نوي جوړښت کې بورډر(Boarder) ویل کیږي.



**د لرګي تکیې (پیزاره)، طاوس د کور ناستې (سالون ) کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په يوه کورکي، د تاخچې (تاقچې، طاقچې) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناستي (اوسیدو، سالون) خونو کې، ډیری لرګیو الماری د ځانګړي سینګار سره لیدل کېدی شي.

د الماری ځای (موقعیت) د دیوال دننه او د خونې په مرکزي برخه کې دی.

دا لرګي الماری کلاسیک شکل لري، ښکلي دوې نقاشي شوې پلې لري، او په هره پله کې درې ورته شیشې لري، چې د چای او سینګار لوښي په کې ځای پرځای شوي دي.

د دیوال الماری سور (بر، لنډوالي یا عرض) اکثرآ ۱۱۰ سانتي متره دی او لوړوالی یې له ۱۱۰ څخه تر ۱٤۰ سانتي مترو پورې دی.

د الماری لوړوالی کور د فرش څخه ۷۰ سانتي متره دی،

د الماری په پورتنۍ برخه کې، تاسو کولی شئ رپک (کارنیس، کرنیز) وګورئ، کوم چې د ښکلي سینګار او د هنرمندانو د کار لیوالتیا او ښکلا سره، پاملرنه ځانته جذبوي (راجلبوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د طاوس کور د ناستې په خونې کې د لرګيو الماریٔ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځینو کورونو کې، په ځانګړې توګه اوسیدو د کوټې په دیوال کې د ختو الماری په نوم خورا په زړه پورې الماری شتون لري، دا الماری ۴، ۸، ۱۲ او ۱۸ خانې لري، د هرې خانې لوړوالی ۲۲ سانتي متره، بر(سور،عرض) یې ۲۰، او ژوروالی یې هم ۲۰ سانتي متره دی، دا الماری د دودیزو آرائشی لوښو، د کیندلو شویو شیانو، یا د شیې د رڼا کولو وسایلو په موخه کارول کیږي.



**د یوه کور د ناستې (سالون) کوټې د ختو الماری انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په یوه کور کې د خښتو تاخچې ( تاق، طاق یا طاقچه) انځور**

د لرګیو او خښتو الماریو سربېره، په پورتنۍ برخه کې د ۲۰ سانتي مترو راوتلی جوړښت شتون لري چې د رېک (کرنیس، کرنیز) په نوم يادېږي ، کوم چې د لرګیو المارۍ د پاسه د ځانګړي سینګار سره پرې کېږي.

د هغې جوړول په دیوال کې د ۲۰ سانتي مترو په اندازه کې د لرګیو میخونو په ټکوهلو او د ورته لرګیو میخونو په سر کې (د پاسه) د کوچني قطر لرګیو په ایښودلو او بیا د ورته لرګیو جوړښت په دواړو خواو کې د خښتو یا ځينې وخت ګچ په کارولو او په ځانګړي مهارت سره ترسره شوي دي.

د رېک د څوکې ډبل والي (ضخامت) معمولاً ۱۰ سانتي متره د دیوال بیخ ډبلوالی يې ۱۵ سانتی متره او د دیوال نه لرې والی (کانټېلېور) يې تر ۲۰ سانتي مترو پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرى (زياتره) خلکو د رپک نه د کوټې د داخلي سينګار او ښکلا له پاره په وطن کې د ختو جوړ شوي لوښي ايښودلو له پاره کاروي.



**د رپک د يوې برخې انځور**



**د رپک د يوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رپک د پاسه دوې تکيې (پايزارې) ليدل کېږي چې هره يوه يې تر ۲۰ سانتي مترو پورې ده، له دې کارنيسونو څخه يوه يې د ختېو څخه جوړ شوی او بله يې د لرګيو برخه يې د چت سره تړلې ده .

دا پيزاره د رپک او چت تر منځ يوه ښکلی همغږي رامنځته کړې ده.

ځينې چتونه د لرګيو پوښښ (مسطح) لري، مګر ډيری يې د پخوانيو وختونو توکرو په ذريعه پوښل (مسطح) شوي دي خو ځينې يې پرته له داخلي پوښښ څخه هم شتون لري.



د يوه چت بې له داخلي پوښښ (مسطح) څخه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





یوه چت د لرگیو پوښښ(مسطح) ځخه انځور



د یوه چت بی له داخلي پوښښ (مسطح) ځخه انځور



د یوه چت بی له داخلي پوښښ (مسطح) ځخه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د لوی سرای د یوه دیوال او دروازې انځور**

د خونو د ننه، ښکلي تاخچې، رپکونه دیوال کې د غاړې او پورتنۍ سینګار سره په ښکلي بڼه لیدل کېدی شي.

د دې تاخچو بهرنی لوړوالی اکثراً ۱۲۵ سانتي متره دی او بهرنی پلنوالی یې ۸۵ سانتي متره دی، په داسې حال کې چې په منځ کې دننه لوړوالی له ۷۸ څخه تر ۱۰۰ سانتي مترو پورې او ژوروالی یې ۱۵ سانتي متره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاخچې داخلي کمان د آرچ یا کمان له داخلي برخې څخه د ٦٠ سانتي مترو په لوړوالي پیل کیږي.

په دغو اثارو کې زیاتره ښکلي دودیز توکي، د سینګار توکي او د شپې د روښنایي توکي (شیطان چراغ او وروسته ایلکین) ایښودل کیږي، ځکه په هغه وخت کې بریښنا نه وه.

د دې تاخچو لوړوالی د کور د غولي (فرش) له سطحې څخه ٧٠ سانتي متره یا د لرګیو تکیې (پیزارې) لوړوالی سره مساوي دي.

د ډبرې له کار وروسته د دیوالونو ساختماني توکي د بیمونو په مینځ کې خامې ختې وې او د ودانۍ له بشپړیدو وروسته په بهر کې د کاه ګل (خاورې، د غنمو بوسو او اوبو ترکیب) و، مګر د ننه یې د ختو سرببره سینګل (خاورو، بډه ګال ( د لوخو ګل)، شګو او اوبو ترکیب) او بیا د سپینو ختو په واسطه سپینېدل (رنګېدل)، کوم چې میکروبونه وژني.

دا سینګل شوي (رنګمالي) په کال کې دوې ځله یانې (یعنې) د اخترونو او نوي کال له رارسېدو مخکې په سپینو خاورو سپینېدل ( رنګېدل).

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوې حوېلۍ باندني دېوال انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**میداني د کوڅې ننوتو د لارې انځور**



**د یوې حوېلي باندني دېوال انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تلپوړ(تهکوي) د کور غالی (فرش) چې تر ډېره د ورښت او رطوبت له ګواښ سره مخ وي، لمړی يې موجوده خاوره د يوې ساده وسيلې په مرسته کېکاګله (ټپک کوله)، بيا يې پرې د سيند ډبرو (ګردې ډبرې) يوه طبقه (فرش، لايه) جوړه شوې وه چې تر ۲۰ سانتي مترو پورې لوړه وه، بيا د ډبرو پر سر باندې ډبل اخپړ(کاه ګل) ورکړ شوی دی.

د پوښښ تيران (دستک) د ۴۰ څخه تر ۴۵ سانتي مترو قطر سره د ۳۰ سانتي مترو په فاصله کې د کوټو د دېوالونو په دواړو خواوو کې اېښودل شوي دي.

بيا د هغه تيرانو پر سر د ارچه تختې چې سور يې ۲۰ سانتي او جګوالی (ضخامت) يې تر ۲،۵ سانتيو پورې رسېږي، ليدل کېږي.

مګر په ځينو کورونو کې د تيرانو پر سر پوزی (بوريا) او يا هم چجکی چې نن ورځ په آزاد بازار کې د پوزي معادل په توګه کارول کېږي، بيا د هغې په سر کې خته (غوره ګل)، بيا د ۱۰ څخه تر ۱۵ سانتي مترو پورې وچه خاوره، او په آخر کې اخپړ(کاه ګل) کېږي.

د چت اخپړ اکثرآ دوه پوړه (دوې لايې) وي او د اخپړ په وخت کې پرې مالګه شيندل کېده تر څو اخپړ کلک او دژمي په موسوم ياني د واورو توګلو (پاکولو) په وخت کې بام ته کوم زيان (نقصان) و نه رسېږي.

چت (بام) ته د راوتلو له پاره به يې زينې جوړوې او په پای کې به يې د زينې په سر کوټې شانته چت جوړاوه کوم چې د بام بوټۍ په نوم يادېږي، بيا به يې بام بوټۍ ته دروازه کېښوله تر څو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې خوانه غله را نه شي او همدا راز د ماشومانو د لوېدو مخه ونیسي ځکه دا بامونه کومه کټاره او یا هم سنجي دېوال پرته شتون لري.

د هر کال په تېرېدو سره خلک باید بامونه اخېړ کړي، د دې له پاره چې په چت یا پوښښ کې د ډیر وزن (دروندوالي) څخه مخنیوی وشي، له ٥ څخه تر ١٠ کلونو وروسته پخواني اخېړ توګل (لرې) کېږي، بیا له سره اخېړ کېږي.

د د بامونو د اخېړ له پاره تر ټولو ښه وخت د تلې (میزان) میاشت ده، چې هوا ډېره معتدله وي او د اخېړ ډېر ژر وچېدو مخه نیول کېږي.

د بام اخېړ ته باید پاملرنه وشي چې بامونه باید میل (شېب، سلوب) ولري، او د اخېړ په مخلوط کې باید د لوی اندازې یانې اوږده بوس وکارول شي ترڅو د غټو چاودو (درزونو) څخه مخنیوی وشي.

بامونه د لرګیو ناوې لري چې د نیمه دایرې په توګه (شکل) د ارچې ( کجورو) له لرګیو څخه جوړې او یا له دریو جلا تختو څخه جوړې شوې دي.

د ناوو اوږدوالی اکثرآ ١٠٠ سانتي متره، پلنوالی یې ١٢ سانتي متره او د تختې ضخامت له ١,٨٤ څخه تر ٢ سانتي مترو پورې دی.

د ناوې د ځنډې لوړوالی ١٠ سانتي متره دی، او وروستۍ برخه چې د چت سره نښلوي، هیڅ ځنډه نه لري، او د ناوې وروستې برخه د بام په دستکو کلکېږي، ترڅو د ناوې د راولېدو مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**طاوس د کور بام د ناوې انځور**

د حویلیو انګړ معمولا د شاوخوا دیوالونو تر څنګ یوه غځېدلې لار لري چې پلنوالی یې تر ۱۰۰ سانتي مترو پورې رسېږي، د لارې په فرش کې پخې خښتې او یا هم د غره اوارې تیږې کارول شوي دي تر څو د پاکولو، مینځلو او ګرځېدو وخت کې، کومه ستونزه منځ ته را نه شي.

د کورونو په انګړ کې د اوبو یوه څاه شتون لري چې له هغې څخه د بېلا بېلو موخو لکه حمام، پخلی، ځښاک او همدا راز د ونو، ګلانو اوبو کولو، د انګړ او کوڅو اوبه پاشلو(آبپاشي) له پاره کارول کېږي.

کورونه یا ودانۍ ډېرې په زړه پورې لرګي دروازې لري چې د دوو مساوي ترازو( پلو) څخه جوړې شوې دي چې یوه پله تل کارول کېږي او بله پله یې د اړتیا په وخت کې کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوې حويلي د ننوتو دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دروازه ډېره قوي، غټه او له چپراست پرته ده، يعنې د هغې په پورتنۍ او لاندنۍ برخه کې يوه سلنډر لرګي جوړ شوی دی چې د دروازې په چوکاټ کې لاندنۍ او پورتنۍ برخه کې چې ګرد سوري لري، ننوتلي دي او په هغه کي حرکت کوي.

دا دروازې، له خوا په خوا تختو څخه داسې جوړې شوې دي چې په جوړولو کې يې هيڅ اوسپنيز ميخ نه دی کارول شوی.
دا تختې دننه خوا څخه د لنډو لرګيو په واسطه په داسې ډول سره نښلول شوي چې د باندې خوانه ګل مېخونه ټکوهل شوي دي او د لرګيو څټ (شا) ته د کاتېډو (قاتېډو) وروسته کلکېږي.

دا قوي لنډو لرګي د دروازې په پورتنۍ او پای کې يا د ځينو دروازو په پورتنۍ ، مينځنۍ او ښکته برخو کې شتون (موقعيت) لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د یوې حوېلۍ د دروازې ګل مېخونو انځور**

ټولې لوې دروازې له دوو پلو نه جوړې شوي دي چې د یوې پلې په څنډه کې یوه ښکلی لرګی لیدل کېږي چې د پوزې( بینیچې) په نامه یادېږي چې په ټولو دروازو کې په ښکاره ډول لیدل کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دروازو د څټ لرګي انځور



د دروازو د څټ لرګي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د دروازې د پوزې (بېنيچې) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





دروازې د حلقې (تک تک) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويې دروازې دوې داخلي او بهرني پياوړي زنځيرونه لري، چې د ټينګولو وروسته، سلنډر فلزي قلفونه په کې کارول کېده.

دا دروازې اکثره د امنيت له امله دننه پرانستل کېږي.

د هرې دروازې په بهرنۍ برخه يانې د دروازې په يوه اړخ کې د دروازې په چوکاټ او بل لوري ته د دروازې په لاندنۍ (پښو) کې يوه پياوړی زنځير تړل شوی او اجازه نه ورکوي چې دروازې په دېوال کې ولګېږي.

د سرتاق په برخه او د کوڅې د دروازې په منځ کې، زموږ سترګې د لرګيو يوه خورا ساده خو معنی لرونکې لرګي ته راځي چې فعاليت يې هر ليدونکي د تېرو پيړيو خلکو ته، حيرانوي.

دې لرګي ته تمبه (اړم) ويل کېږي، او دنده يې د بهر څخه د کوڅې دروازې تړل (خوندي کول) دي.

دغه لرګينه اړم (تمبه) ٤٠ سانتي متره اوږدوالی، ٦,٦ سانتي متره سور او ٧ سانتي متره ضخامت لري، چې زياتره يې د سرتاق (سرطاق) سره د يوه چېراست يا لوي اوسپنيز مېخ په واسطه کلک کېږي او بله خوا يې پرانيستې ده.

د اړم (تنبې) لکۍ د ٤ سانتي مترو په اوږدوالي او د ٣ سانتي مترو ضخامت ته پرې شوی ده، کوم چې دروازه د بهر څخه خلاصيدو نه ژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اړم (تنبې) د وصلېدو (اتصال) انځور



دروازې د اړم (تنبې) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





دروازې د ایرم (تنبې) انځور



دروازې د ایرم (تنبې) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





دروازې د پلې د تاوېدو ځای انځور



دروازې د پلې د تاوېدو ځای انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





دروازې د پلې د تاوېدو ځای انځور



دروازې د پلې د تاوېدو او د دروازې د درېدو زنځير(Door stopper) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکله چې د کورنۍ یوه غړی وغواړي بهر ته لاړ شي، نو اړینه نه ده چې نورو ته غږ(تکلیف) ورکړي او دروازه له دننه څخه وتړي یا بنده کړي، مګر سړی په خپله کولی شي هماغه دروازه له زنځیر نه کش او پریږدي، دروازه پخپله تړل کیږي.

په دې حالت کې سړی په خپله هم نشي کولی له بهر څخه دروازه خلاص کړي.

بیا باید دروازه د باندې خوا نه د زنځیر او یا د حلقې په مرسته و ټکوي ترڅو د کورنۍ غړي یې دننه څخه خلاصه کړي.

د حویلۍ په دروازو کې، د کورنۍ د غړو او میلمنو د راتګ د خبرتیا له پاره، دوی باید دروازه د باندې (بهر) زنځیر یا د بهرنی فلزي حلقو سره وټکوي، چې په نننۍ معمارۍ کې د دروازې زنګونه بلل کیږي، د پورتني زنځیر او حلقو د ټکولو په مرسته د کور د ننه کسان خبریږي او دروازه خلاصوي تر څو د کور غړي او یا هم میلمانه کورته رابولي.



**دروازې ټک ټک انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**دروازې د ټک ټک زنځير انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**دروازې د ټک ټک زنځیر، پوزې او پلې د درولو(Door stopper) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**زيارت دروازې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیری شاوخوا دیوالونه (چاردیوالی) لوړ ډبري کاري (سنګ کاري) لري، ترڅو حویلی ته د رطوبت او نم د ننوتلو مخه ونیسي.

د ډبرو د کار لوړوالی په حویلیو کې توپیر لري، له ۸۰ سانتي مترو څخه تر ۱۵۳ سانتي مترو پورې دي، د دیوالونو لوړوالی اکثرآ ۳۰۰ سانتي متره دي.

د ډبرو کارونه (سنګ کاری) اکثرآ د سیمنټو او شګو له مصالح پرته ترسره کیږي، نو دا ډول ډبرې کار(سنګ کاری) ته د وچو ډبرو کار ویل کیږي.

بامونو د واورو او باران اوبه اکثرآ د چت د ناوو په واسطه بهر ته لیږدول کیږي، کوښښ شوی دی چې د انګړ د باران او واورې اوبه هم د کوچنیو ویالو په مرسته کوڅو ته ولیږدول شي.

دوی هڅه کړې چې د انګړ لوړوالی د کوڅې څخه لوړ کړي ( ونیسي) چې د واورې او باران په وخت کې اوبه د باندې لاړې شي.

دا راز هڅه شوې وه چې په کوڅو کې ویالې وباسي تر څود کور غړو، خپلوانو، میلمنو، تېرېدونکو له پاره ستونزې پیدا نه شي او د دوی جامې په خټو ککړې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**کوڅو د ختو انځور**

وروسته د وخت په تېرېدو سره دوی وکولای شول چې د کوڅو په منځ کې په ازاده هوا کې کیندنې وکړي تر څو د پسرلي او ژمي په موسم کې الته اوبه و بهېږي دا اوبه په ویالو کې ډنډېدې او په هغو کې کثافات غورځېدل چې د میاشو د تولید پر ځای بدلېده او وروسته خلک د ملاریایا، لشمانیا او سالدانې په مرضونو اوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کوڅې د ویالې انځور

په افغانستان کې د جګړو پر مهال د مراد خانۍ سیمه هم د نورو تاریخي ځایونو په څېر خورا زیانمنه شوې او تقریباً له منځه تللې وه ، زیاتره سیمې یې په بشپړه توګه ویجاړې شوې او د سیمې خلکو او لارویانو په کثافاتو بدلې کړې وې.



سیمې د یوې برخې د کثافت دانۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





سیمې د یوې برخې د کثافت دانۍ انځور



سیمې د یوې برخې د کثافت دانۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوې حوېلي د نيمې نړېدلي انځور



د يوې حوېلي د نيمې نړېدلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د یوې حوېلي د نیمې نړېدلي انځور**



**د یوې حوېلي د نیمې نړېدلي انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د یوې حوېلي د نیمې نړېدلې انځور



د یوې حوېلي د نیمې نړېدلې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د یوې حوېلي د نیمې نړېدلې انځور



د یوې حوېلي د نیمې نړېدلې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د یوې حوېلي د نیمې نړېدلې انځور



د یوې حوېلي د نیمې نړېدلې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د يوې حوېلي د نيمې نړېدلې انځور

اوس مهال د فېروز کوه په نوم د فرهنګي موسسې له خوا د مراد خانۍ سيمې بيا رغونه روانه ده.

فېروز کوه يوه غيردولتي موسسه ده او د دغه فرهنګي بنسټ موخه د افغانستان د لرغونو او تاريخي اثارو ساتل دي.




د يوې حوېلي د نيمې نړېدلې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د فیروز کوه د بنسټ د کارگرانو، کسبه کارانو، استادانو، انجینرانو او کارکوونکو انځور



د یوه کور د بیا رغونې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د یوه کور د بیا رغونې انځور**



**د یوه کور د بیا رغونې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د بیا رغونې انځور



د بیا رغونې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د یوه کور د بیا رغونې نه انځور



د یوه کور د بیا رغونې نه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوی سرای:**

دا سرای د میدانی په کوڅه کې شتون لري چې په اوس وخت کې د فېروز کوه د مرکز د دفترونو او ځینو ښوونځیو د پاره کارول کیږي.

په حقیقت کې دا یوه کوچنی کمپلکس دی چې د څو حویلیو څخه چې یوه د بلې سره لار لري جوړ شوی دی، وضاحت په لاندې انځور کې لیدل کېدی شي.



**د لوی سرای اوایي (هوایي، فضایي) انځور**

د دې کمپلکس اصلي لار د میداني د کوڅې نه ده، دا کوڅه یوه لویه دروازه هم لري چې د لرګیو څخه جوړه شوې ده، خلاصول او تړل یې په ښوېدو (سلایدنګ) توګه تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**میداني د کوڅې د ننوتو لارې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**میداني د کوڅې دروازه چې د ښوېدو(سلایدنګ) په توګه تړل کېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور



لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

د لوی سرای د نورو حوېلیو په شان دالانونه یې بې له دروازو څخه دي او داسې ښکاری چې د تاوده یا ګرم اقلیم له پاره ډېزاین شوي وي.

د دې کبله چې دا معماری د مرادخان په ذریعه له کندهار نه لیږ دول (انتقال) شوې ده چې د پورتنۍ خبرې تصدیق کېدی شي.

دا سرای ښکلې او په زړه پورې ارسۍ لري چې په ارسیو کې یې شیشو د ځای پر ځای کولو(نصبولو) ځایونه هم لیدل کیږي.

دا سرای د تلپوړ په ګدون درې پوړیزې ودانې لري چې د حوېلۍ په څلورو خواوو کې په سترګو کیږي.

پوښښ یې د نورو حوېلیو په شان د لرګو نه دي او ښکلې داخلی چت پوښښ (مسطح) هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بامونه يې اخېړ او د لرګي ناوې لري چې اندازې يې د نورو کورونو په شان دي.



**لوی سرای د يوې برخې انځور**

د سرای په ودانيو کې د بخاريو ځايونه شتون لري او د بام نه دباندی يې دوکش ښکاري.

بامونه يې خورا ښه ميل (ميلان، سلوپ) لری چې د باران په وخت اوبه په چټکتيا سره ناوو ته ځي.

د لوی سرای د ننه برخې کې، په دوو خوا په دويم پوړ کې صوفه يا برنډه ليدل کيږی چې د هغې نه کوټو او دالان ته لار لري.

د برنډې فرش پخې خښتې دي او د انګړ خوا ته ښکلې کټاره هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتارې اوچت والی یو شان نه ده خو د لاندې او پورتنس برخې کې ارچه څلورخواوې (کوچني چارتراش) کاربدلي دي مګر د دواړو تر منځ ګرد (ګول) په ورارې توګه سره نښلول شوي دي.

مګر په ځينو برخوکې دا کتارې د لرګي او ښکلي ډيزاين لري.

د حويلي په غولي کې د لارويو فرش هم پخواني پخې خښتې دي مګر په منځ کي يې سبزي (کبله) شنه او څه ونې هم په سترګو کيږي.

په ځينو برنډو کې د کتارې سره جوښت ستني (پايې) دي چې د برنډې سر پوښل شوی دی. دا ستنې ديوه اوبل سره د ډيزاين شويو ښايسته کمانونو سره نښلول شوي دي.

د برنډې بامونه پس له هر څلورو کمانونو څخه يوه د لرګي ناوه لري چې اوبه يې ټولې انګړ ته بهيږي.

د هرې ودانۍ برنډي جلا دي مګر د يوه وتلی مثلث ډوله دالان په ذريعه د يوې ودانۍ برنډه د بلې ودانۍ برنډې سره نښلول کيږي چې کتارې يې ساده او چليپا ته ورته شکل لري.
په لمړي پوړ کې د دالان دروازو ته مخامخ کتاره نشته او مخه يې خلاصه ده او د ختو له پاره کومې زيني نه لري مګر لوړوالی يې تر دېرشو سانتيو ډېر دی.
د ګالريو ستنې او کمانونه خورا ښکلي ډيزاينونه لري چې ټول يې د ارچه لرګيو نه جوړ او يوه د بل سره نښلول شوي دي.
چتونه يې د لاندې خوا نه لرګي پوښ (مسطح) لري او خورا ښکلي ډيزاينونه په کې ليدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)

.....................................................................



لوی سرای د یوې برخې انځور

د برنډو په لاندې برخه کې ډبرکارۍ ( سنګ کارۍ) ښکاري چې په ځینو برخو کې شل او ځینو برخو کې تر دېرشو هم لوړه ده.

د ډبر کارۍ (سنګ کارۍ) د پاسه د لرګیو چار تراش لیدل کیږي چې د هغه د پاسه د کټارو لاندنې برخه او ستنې ټینګې (کلکه) شوې دي.

د ګالري یوه لوی کمان د څو نورو وړو(کوشنیو) کمانونو څخه جوړ شوی دی چې لوی کمان ته ښایست په برخه کوي.

د کمانونو د پاسه ښکلې سورۍ لرونکي تختې لیدل کیږي چې په ننۍ معمارۍ کې ورته جالۍ وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

د لوی سرای دروازی د مراد خانی د نورو دروازو په شان دي چې دوې پلې، پوزه، زنځیرونه، ګل میخونه او کونډې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

د لوی سرای زینې هم د نورو کورونو په شان دي چې لوړوالی یې تر دیرشو سانتیو نه اوچت او په نوش کې لرګي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

دا زینې څلور خېزه لري چې ټول یژ د ننه په دالان کې شتون لري اوهېڅ پته یې د دالان نه د باندې نه لیدل کېږي.
دا ځکه چې د وارو او بارانو په وخت کې کورنۍ د غړو د لوېدو سبب ګرځي.
د زینو فرشونه هم په پخو خښتو پوښل شوي دي او د هر پوړ ډیزاین یې د بل پوړ سره توپیر لري.

د زینو په پای یا بام کې د وتو په سر کي پوښښ لري چې ورته بام بوتۍ (بام بوتی) وایي چې د مرادخانۍ د نورو کورونو په څېر(شان) دروازې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور



لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**



**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library




.........................................................................



**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د یوې برخې انځور



لوی سرای د یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**لوی سرای د یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د بیا رغونی نه وروسته انځور



لوی سرای د بیا رغونی نه وروسته انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د بیا رغونې نه وروسته انځور



لوی سرای د بیا رغونې نه وروسته انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





لوی سرای د بیا رغونی نه وروسته داخلی انځور



لوی سرای د بیا رغونی نه وروسته داخلی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مراد خانۍ د لاسی نجارۍ تولید شوي شیان، په بهر کي:**

مرادخانۍ کې د کندنکارۍ کارځای (کارگاه) شتون لري چې د خورا تجربه لرونکو استادانو په ذریعه ډیر ښکلي لرگي کارونه تر سره کیږي چط نه یواځی په هېواد دنه بلکه د باندې هم غوره نوم (شهرت) لرې.

په لاندې انځور کې تاسو کولای شئ چې د یوه ښکلي څراغ پوښ (شیت) او څپره (سایه بان) و وینۍ.



**فیروز کوه  د تولید شوي لرگیو شیانو انځور (هېواد نه د باندې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**فیروز کوه  د تولید شوي لرگیو شیانو انځور (هېواد نه د باندې)**



**فیروز کوه  د تولید شوي لرگیو شیانو انځور (هېواد نه د باندې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**فیروز کوه  د تولید شوي لرګیو شیانو انځور (هېواد نه د باندې)**




**فیروز کوه  د تولید شوي لرګیو شیانو انځور (هېواد نه د باندې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلان او ژمنې:**

د پلان او ژمنې له مخې، د فیروز کوه خدماتي انستیتیوت به د (۲۰۱۱) کال تر پایه خپله بیا رغونه بشپړه کړي.

د ځینو برخو د ښه والي او پراختیا تر څنګ یې د جوړېدو چارې هم روانې دي.



**د لوی سرای دبیا رغونی نه وروسته د یوې څنډې انځور**

د فیروز کوه بنسټ د څېړنې له مخې چې د دې تاریخي سیمې د ساتنې دنده په غاړه لري، د مرادخانۍ معمارۍ د اسلامي ښارونو په معمارۍ کې ریښې لري چې له هسپانیا څخه تر هند پورې لیدل کیدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**په یوې کوڅې کې د یوې سراچې انځور**

### د مرادخانۍ پرتله کول:

هغه څه چې د کابل په مرادخاني کې د پام وړ دي هغه لنډې دروازې او احاطه شوي کوڅې دي چې د دې سیمې بې ساري دفاعي سیستم څرګندوي.

په نورو اسلامي ښارونو کې معمولاً دروازې په داسې ډول جوړې شوې دي چې دوه بار لرونکی (بارداره) اوښان پرې په یوه وخت تېرېدلای شي او د لوړوالي له امله پر آسونو سپاره کولی شي پرته له دې چې له آس څخه ښکته شي ښار ته ننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**په یوې کوڅې کې د یوې سراچې انځور**

خو د مرادخانی د زړو ودانیو دروازې ډیرې لنډې (ټیټې) دي، د مرادخانی کورونه د حویلی په لور لویې ارسی (کړکی) لري او هغه کړکی چې بهر ته خلاصیږي ډیرې کوشنی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مراد خانۍ نوم ولې؟**

د فيروز کوه بنسټ ځېړنې ښيي چې مراد خان قزلباش د افغانستان تيمورشاه له سترو ساتونکو څخه و چې په ۱۷۷۵ کال کې تيور شاه د هېواد پلازمېنه له کندهاره، کابل ته و لېږدوه (انتقال کړه) هغه يې هم له ځانه سره راوست.

تيمورشاه د دغه افسر د خدمتونو په هکله (خاطر) هغه ته د کابل سيند په شمال کې ځمکې ورکړې.

ښاغلی احمدزی وايي:
مراد خان د کندهار ښاروال و او کله چې تيمورشاه پلازمينې کابل ته ولېږدوله، هغه يې هم له ځانه سره کابل ته راوست.

هغه وايي چې د قزلباش سرتېري چې د جنګي ځواکونو او د محاکمو په ليکو کې يې برخه لرله، کابل ته ولېږدول شول او د مرادخانې په سيمه کې مېشت شول او په دغه ځای کې يې د ښکلو کورونو په جوړولو پيل وکړ.

له همدې امله، په پخوا وختونو کې د دې ځای نفوس اکثره قزلباش وو.

د ښاغلي احمدزي په خبره، تر کورنيو جګړو مخکې د دې ځای ۹۰ سلنه نفوس قزلباش وو او اوس د مرادخانۍ د قزلباش نفوس ۳۰ سلنې ته راټيټ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................

د مرادخاني له قزلباش څخه امین الله وايي:

"زموږ خلک او خپلوان اوس له مراد خانۍ څخه د نړۍ بېلابېلو برخو ته کډه شوي دي.

دوی یا په سیمه کې خپل کورونه په کرایه ورکړي د ځینو کورنه يې وران شوي او د ښار نورو سیمو ته کډه شوي او یا هم له افغانستانه وتلي دي."



**د يوې تاريخي دروازې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل پوهنتون استاد یونس تغیان سکای د قزلباش په اړه وایي:
دا کسان نادرشاه افشار ته نږدې وو او وروسته له دې چې احمد شاه درانی افغانستان په کندهار ولایت کې تاسیس کړ، دغه کسان هم د ده په پوځ کې وګمارل شول.

دی وایي:
له کندهار څخه کابل ته د پایتخت تر انتقال وروسته قزلباشان هم د تیمورشاه له لښکر سره کابل ته راغلل او په هغه وخت کې یې د اداري جوړښت او عصري حکومت په رامنځته کولو کې ستر خدمتونه وکړل او د نوي حکومت په نظامي او اداري څانګو کې یې مرکزي دندې په غاړه واخیستې.

د ښاغلي سکاي په وینا دغو کسانو سرې خولۍ اغوستې، د پوځ پر وړاندې به یې حرکت کاوه او له همدې امله د قزلباش یا سرې خولۍ (سرخ کلا) په نوم یادېدل.

هغه وویل:
تاریخي شواهد ښیي چې دوی د ایران د تبرستان اوسېدونکي وو، له دې څخه څرګندېږي چې مرادخانۍ د دوو هېوادونو ګډ کلتور دی چې د افغان او ایراني معمارانو له خوا جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د  یوې تاریخي دروازې انځور**

د ( بالاحصار او تاریخي پېښې) کتاب لیکوال احمد علي کوهزاد لیکي:
"       سردار مراد خان قلندرزی پوپلزی د احمد شاه سدوزي د واکمنۍ پر مهال په کندهار کې اوسېده، په ۱۱۸۰ زیږدیز کال کې د احمد شاه سدوزي له خوا د احمد شاهي کندهار د ښار د ترمیم د قوماندان او سرپرست په توګه وټاکل شو".

کله چې تیمورشاه پلازمینه کابل ته ولېږدوله، مراد خان د کرمان له قبیلې او د قزلباش د نورو قبیلو له دریو سوو آس سپرو سره کابل ته راغی او په دې سیمه کې چې ورروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)
.................................................................

مرادخانۍ په نامه مشهوره شوه، ځای پر ځای او د وانیو په جوړونه یې پیل کړ.

سردار مراد خان د تیمورشاه د واکمنۍ پر مهال د کابل ښار د جوړولو او پراختیا مسوول وټاکل شو او د مرادخانۍ سربېره د ښار نورې سیمې هم د هغه تر څارنې لاندې جوړې شوې.

" تیمورشاه دوې تکړه معماران چې په کندهار کې یې د احمد شاهي ښار جوړ کړی وو، حاجي محمد یاسین او زوی یې استاد پاینده محمد کابل ته راوستل او د سردار مراد خان تر څارنې لاندې یې د ښار د پراختیا چارې پیل کړې".

د مرادخانۍ گوزر(گذر) ډېرې کوڅې لري چې د ځانگړو خلکو په نومونو نومول شوي دي، د اوسیدونکو سوداگري، زیارت او داسې نور، چې په کې د پنځه تنو (پنج تن) زیارت، مدیر سرور کوڅه، توره کوڅه، زیارت کوڅه شامل دي.

املې(عملې)، د میر ابو طالب کوڅه، د مرادخاني هزاره قلعه، او داسې نور.

د مرادخانۍ پخواني سرحدونه (حدودات) د کابل له زاړه گمرک څخه د کوټوالي گنبد (نگارخانه ـ اوس مهال د مالیې او کانونو وزارت) پورې پراخه وه او باغلیمردان د کوڅې له لارې یې نښلول شوې وه.
د مرادخانۍ په بازارنو کې د خوراکي توکو پلورنځي، ترکانۍ، آهنگرۍ، لبنیاتو، حلیم پخولو، ماهیانو او جلیبي دوکانونه (په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوړي کې د شیریخ یانی د جلیل او خلیفه افضل شیر یخ)، خیاطۍ (رجب علي خیاط)، د بوټانو ګنډل، سلماني (خلیفه امیر جان) شتون درلود.

د لرغونو اثارو هټۍ (فقیر)، د حاجي محمد کامران د پلار یانې حاجي محمد کامران زوړ کور (پهلوان توره کوڅه)، د ډبرو سکرو دوکان (...بلوڅ) هم شتون درلود.

په مرادخانۍ کڅ ځېرې شتون درلود چېرې چې خلک به الته کېناستل او ګپ شپ به یې لګاوه.

تر هغه ځایه چې زما په یاد دي، هغه وخت د مرحوم فقیر محمد وزیري (زما نیکه او د ګذر وکیل) د زاړه درې پوړیزې ودانۍ لاندې څلور د فیشن پلورنځي (غلام سخي، نوروز، برات او نور) وو.

چیسټر فل سګریټ، رنګ سګریټ، روسي چاپ سپي (پاپیرس)، د موسم نه بهر میوه چې په هغه وخت کې په بازار کې لږ موندل کېده، اووه پوسته توپ، سپین کریم، ډول، ډول کیک، کولچې او نور شیان پلورل کېدل.

شاهي ګاډۍ (اردو ګاډۍ) په دې دوره کې د دربار وزارت پورې اړه درلوده، چې د مرحوم عثماني د لیکنې له مخې، "په دې کې یو آس او دوه اسونه فاطان او لنډو ګادي او همدارنګه سور، تور، نیلي، او نور اسونه ساتل شوي ول."

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټر سره ترلی زما د پلار ملکیت ګراج و، چې په لومړي پوړ کې د ټین دوکان، د بایسکل ترمیم دوکان او په پورتنۍ پوړ کې د مسافرینو له پاره د کرایې خونه وه.
د همدې بازار مخې ته د خاورو تیل ( تیل خاک) یوه مشهور پلورنځي شتون درلود، چې تر ډېره سپینې (۲۰ لېتره) اوسپنیزه بوشکې او لوی ابي اوسپنیزه بوشکې یا بېلرونه سره پلورل کېدل چې د پخواني شوروي اتحاد څخه راوړل (وارد) کېدل.

په دې بوشکو کې، خلکو زنځیرونه او زلفي لګولې، چې ډېری کورنۍ یې د وریجو، غوړیو او نورو غلو په ذخیره کولو کې کاروې.
د تیل خرڅولو د هټۍ شاته، هغه کوڅه چې تر زیارت پورې غځېدلې وه، د میر ابو طالب کوڅه بلل کېده.

د مرادخاني له څلورلارې څخه ختیځ ته د قلعه هزاره پورې د مرادخانۍ په نامه یادېده چې یوې خوا ته یې د حسن خان د کور، چې د سوز په نامه یادېده ، د بخارا پاچا کور، سور جرنیل او بلې خوا ته پروت سړک، د ټرانسپورټ دیوال او په پای کې د اور وژنې سټېشن، کرنیزو ځمکو، د حربیه وزارت، استقلال (آزادۍ) منار، تر روډ دوام درلود او د هغه نه وروسته نور کورونه ګمرک د څټ (شا) کورونه بلل کېدل.

په دې سیمه کې مشهوره هټۍ ،د شیر بوټ ګنډونکي (بوټ دوز) هټۍ وه چې د ښه ترمیم له امله یې ګڼ شمېر پیرېدونکي درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)

..................................................................

په پخوا وختونو کې یوې ویالې (بیالۍ) شتون درلود چې د خښتې پول ( پل خشتي) لاندې د کابل له سیند څخه جلا شوی وه، چې د زیارت ترڅنګ ( شا)، مرادخانۍ بازار، د موټرو د هډې له دېوال سره موازې بهېدله، چې د ګمرک او حربيې وزارت څنګ ( شا) ځمکې يې خړوبولې.

له اویا کلونو څخه مخکې د هغې ویالې آثار تر سترګو کېدل او بس.

زیارت ته په تللو کوڅو کې یوه جومات و، پنځه تنو( پنج تن) زیارت (زما د زيږون ځای هم په همدې کوڅه کې و)، د نجو [نجم الدين] د لبنیاتو هټۍ او مخې ته يې کوچنی زیارت "پنج تن" او د خوراکي توکو دوې هټۍ وې.

د قصاب هټۍ (پهلوان حسن قصاب) او د سرو زرو له هټۍ څخه لږ وړاندې، امله(عماليه) کوڅه، د حاجي اسماعيل نانوايي (بیکري) د زیارت جومات موذن، د نبي جان د خوراکي توکو پلورنځی، د سلطان شمعې هټۍ او دوې یا درې نورې هټۍ، د زیارت دروازه د حضرت په نوم نومول شوې وه.

د دې کوڅې مخې ته د زیارت (د شاه قل کور، د دې کوڅې په وروستۍ برخه کې د شاه قل هوټل خاوند و) او څنګ ته يې د مشهوره مرادخانۍ حمام دروازه وه.

د حمام په دیوالو کې څو تاخچې (تاقچې، طاقچې) وې چې الته تعویذ لیکونکي، کېناستل او د غريبو خلکو نه به يې د تعویز په نامه پیسې شکوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرادخانۍ چوک په نامه یوه میدانۍ شتون او د دې چوک په منځ کې یو لوډ سپیکر و چې مستقیمې راډیویې خپرونې یې خپرولې.

د ممیزو کوڅه چې د نن ورځې (نادر پښتون) کوڅې ته رسیږي له همدې چوک څخه پیلیږي.

دا د سرای صفدر چوک، د څپلۍ ګنډلو(چپلي دوزی)، ډولچې، رابری وسایل، سرو زرو او نورو هټیو، د کابل سیند په غاړه د ښنتي تر پوله رسیږي.

د مرادخانې زیارت چې د "ابوالفضل زیارت" په نامه هم یادیږي، د کابل له ټولو سیمو څخه د ښځو، نارینه وو، بوډاګانو او ځوانانو یو له ګڼه ګونې ډک مرکز و.

دا زیارت د چهارشنبې په ورځ د ښځو له پاره و او د حویلي په انګړ کې به یې په لویو لوښو (ډېګښو) حلوا پخوې، ښځو به دا لوښي د زیارت (نبي جان) مخې نه یې له هټۍ څخه په کرایه اخستل او حلوا به یې په راغلو خلکو وېشله.

زما نیکه حاجي محمد یعقوب چې د مرادخاني له مشرانو څخه و، تر وفات وروسته د زیارت په انګړ کې ښخ شو او پر دې سربېره زما نیا (بوبوجان مریم) او تره محمد حسن واصل هم هلته ښخ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۳۰ لسیزه کې چې زه د ۴-۵ کالو په عمر وم، لومړی ځل د مرحوم میر عباس اعظم ته چې د زیارت «سردار» و، بوتلم او د هغه له زوی قندي شاه سره یو ځای د الزبر- بېزبز په نامه دیني درس پیل کړ.

د چهار شنبې په ورځ به چې کله سړیو ته د ننوتو اجازه نه وه، نو قندي شاه او زه به د میر عباس په ځای کې د تخت پر سر کېناستو او د تخت پر سر به یې د غرڅه (هوسۍ، آهو) د پوستکي پر سر ایښودل شوې پیسې راټولولې او د شمو اور به مو مړاوه.

د زیارت مخې ته یوه محلي حمام و، چې د سهار له اذان څخه تر اتو بجو پورې د نارینه وو له پاره او وروسته د "ښځو د حمام" په توګه کارول کېده.

یوه ښځه چې د سکینې کیسه مالې په نامه یادیده، په هغه ورځو کې چې زه د "زیارت" شاګرد وم او التـه (هلته) مې د "آغا صاحب" په مقام کې ولیده، هماغه جمله چې ډېرو خلکو ته یې ویلې او ما ته یې هم په همدئ ورځ و ویله، کله چې زه غسل ته تلم او له هغې ورځې څخه وروسته زه د نارینه حمام ته لاړم.

د مرادخانۍ په بل کونج کې د افغانستان د پخواني ولسمشر ډاکټر نجیب الله د زیږون ځای، موقعیت درلود.

د توري صبدر په ګاونډ کې هېواد د محبوب هنرمند حاجي محمد کامران پلار د دوهم لاس د وسایلو پلورنځی درلود او په خپله حاجي د سمیټ فلمونو د ننداري چارې پیل کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا افغان یهودان د توري په سیمه کې اوسېدل او الته (هلته) له ویجاړېدو وروسته په نوي ښار او د زینب نندارې په څنګ کې مېشت شول.

د کوټوالی ګنبد له ویجاړیدو وروسته، مخکې له دې چې د مالیې او کانونو وزارت جوړ شي، موقعیت یې د ښاري خدماتو سټیشن و، په هغه وخت کې د دارالامان، پغمان، کارته ٤، شهر نو، چیرته چې د لیني موټرو تم ځای و.

زما په اند په دې سیمه کې د زین العابدین په نوم یوه زیارت و، چې دا مهال د کانونو وزارت تر ځمکې لاندې موقعیت لري.

تر اووه کاله وړاندې د فیروزکوه انستیتیوټ د مراد خانۍ ویجاړې شوې ودانۍ په لرګیو او خښتو بیا رغولې دي.

نن ورځ، د دې کلتوري بنسټ زده کونکي د افغانستان تر ټولو غوره کلاسیک هنر محصولات جوړوي او بازار موندنه کوي.

د قلم غږ د کابل په زړه کې د زړو ودانیو په یوه خونه کې چوپتیا ماتوي.

دلته ځوان هلکان او انجونې په ډیر زیرکۍ او احتیاط سره خورا ښکلي خطاطي او کوچني نقاشي د کمپیوټر سره نه بلکه د لاسي قلم اورنګ ( پینټ) سره رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانئ)

................................................................

دکمپیوټر په زمانه کې چې خطاطئ خپل بازار له لاسه ورکړی او پېرودونکي نه لري، نو ځوانان هڅه کوي چې دغه هنر را ژوندی کړي او خلکو ته يې وروپېژني.

صغرا، هغه نجلئ چې د فیروز کوه په انستیتوت کې د خطاطئ او میناتورئ زده کړې کوي، وايي:

" هنر ډېر کوچنی شوی دی، موږ غواړو هڅه وکړو او هنر ته خدمت وکړو، هنر ته ارزښت ورکړو، د هنر پرته ټولنه مړه ټولنه ده".

په عمومي ډول د مراد خانئ په کورونو کې دوې معماري سټایلونه کارول کېږي:

١. کابلي معماري
٢. لوېدیځه (انګریزي) معماري

خو عبد الواحد خلیلي وايي چې د دې سیمې د ډېرو کورونو معماري د کابلي په بڼه ده.

" د ودانیو لید (مخ) د کابلی معمارئ پېژندنه لري، د کابلی معمارئ د هنر یوه ځانګړنه دا ده چې کوټې د حویلی په دیوال کې جوړې شوې دي، چې کوټې د حویلی دننه خوا لیدل کېږي.

کورونه بهرنئ لوېي کړکئ نه لري، دا کار د پوځي او جنګي مسایلو له امله تر سره شوي دي، ځکه په هغه وخت کې د دې احتمال موجود و چې اور به وغورځول شي او بریدونه به پیل شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښاراصلي معماري (مرادخانۍ)

.....................................................................

د کابل پر سیند د ابوالفضل زیارت ته مخامخ د مرادخاني په سیمه کې یوه پول (پل) جوړ شوی دی.

دا پول (پل) د کابل ښار یوه له پخوانیو پلونو څخه دی او ځانګړنه یې دا ده چې په پخوا وختونو کې به کله چې یو څوک له دې پله تېرېده، نو د کرایې په توګه به یې «یوه پیسه» ورکوله.

د یوه پیسګي (یک پیسګي) پول( پل) پخوا د لرګیو تختو او فلزي تار (کیبل) څخه جوړ شوی و، اوس دا پول (پل) خپله اصلي بڼه نه لري او له کانکریټ څخه بیا رغول شوی دی.

هره ورځ په سلګونه کسان د یوه پیسګي پله څخه تېرېږي او له څو کلونو راهیسې په دغه پله د ژمي او اوړي توکي پلورل کېږي.

د کابل د زاړه ښار د مراد خانۍ سیمې زاړه کورونه د کاناډا، انګلستان، هند او په ځانګړي ډول د امریکا په مالي مرسته په بشپړه توګه رغول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بیا رغونې انځورونه:**

لاندې څو مهم او پر زړه پوري بیا رغونې انځورونه د نمونې ( مثال) په توګه ګډ شوي دي.




**یوه کور د ارسیو بیا رغونې انځور**



**د یوه کور بیا رغونې د اخیر انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





یوه کور د بیا رغونې د ارسۍ انځور



یوه کور د بیا رغونې  د پوال جوړونې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د بیا رغوني ارسۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د بیا رغونې انځور**



**یوه کور د بیا رغونې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





یوه کور د بیا رغونې انځور



د بیا رغونې  له پاره خښتو جوړولو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د بیا رغونې د اخېر ختو انځور**



**یوه کور د بیا رغونې د سینګل جوړونې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**یوه کور د بیا رغوني د رنګولو (سپیني خاورې په ذریعه) انځور**



**یوه کور د بیا رغوني  د تهداب انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





يوه کور د بیا رغونې د دېوال انځور



د يوه کور د بیا رغونې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پا يله:**

د مراد خانۍ له ودانيو څه باندې ۲۴۸ کاله تېر شوي او د تېرو حکومتونو د واکمنانو د بې غورۍ او د هغوی د شخصي ګټو له امله د افغاني معمارۍ طرز(سبک) ته له درناوي پرته د هغې ډېرې برخې نورو کانکريټی دولتی او شخصي ودانيو ته ځانګړې شوي، او د مراد خانۍ نه جلا شوي دي.

دغه جوړې شوې ودانۍ د شمال او لوېديځ له لوري د مراد خانۍ ليد (نظر) په بشپړه توګه له منځه وړی دی.

همدا راز د سيمې په شمال ختيځه برخه (ځنډه) کې د درې پوړيز غير ضروري (نمايشي) جومات د جوړېدو چارې د محمود خان پله له غاړې څخه دمراد خانۍ ختيځه منظره هم ډېره اغېزمنه کړې ده.

د دې ډول بې نظميو د مخنيوي له پاره بايد هېواد پال معماران لاسونه سره يوځای کړي او مرادخانۍ د کانکرېټي ودانيو جوړولو له خپرېدو څخه وژغوري، د سينما، شخصي او دولتي ودانيو په ګډون شته کانکرېټي ودانۍ ړنګې او له سيمې نه يې لرې ګذار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د چاپ شویو کتابونو لېست**

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲۴. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲۶. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳۴. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
٣٧. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
٣٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)
٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو ښونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد سوم)

۵۹. سيدو او عيدو - د کوشنيوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
۶۰. د يوې مياشتې ناوي (پښتو ناول)
۶۱. دخاځکو هار (د يوه سړي لنډې کيسې)
۶۲. د کابل ښار اصلي معماري (مرادخانۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٢. د کابل ښار معماري ( بي بي مهرو)
٣. بې وخته باران
٤. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٥. لیونی لېوه
٦. کوشنۍ سوداګره
٧. سپین کارغه
٨. سور تنور
٩. خړه بیزو
١٠. بندي مرغه
١١. توده بړستن
١٢. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The Original Architecture of Kabul City




Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: june-july /2025

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library